د ښوونکي لارښود

د هوپو د کتابونو له سلسلې څخه د ګټه اخيستنې لپاره په ټولګي کې

## لسم کتاب :

# تاوونکې فاطمه او کيږدۍ

ليکوونکی: ادريس شاه




ليکوونکی:

**ډاکتر ډينيس نيسل**

د ټوم نيو زده کړو ونيس



د هوپو کتابونه

د نورو معلوما ت لپاره د هوپوکتابونه
داوربدلو مواد او د ښوونکي لارښود لپاره
لطفاً ارتباط ونیسئ:
دختیځ بیا رغونې موسسه (کور)
پی او بکس نمبر۵۷۰۴ کابل
د تیلفون شمیره
۰۰۹۳(۰) ۷۸۵۲۰۴۴۴۳

www.hoopoekids.com
چاپونکی
kor.pubs@yahoo.com

دختیځ بیا رغونې اداره (کور)
په ملګرتیا د
د هوپو کتابونه
پوستې بکس نمبر ۱۷۶، لوس آلتوس، کلیفورنیا ۹۴۰۲۳ د امریکا متحده ایالتونه

هوپو کتابونه د انساني علومو د مطالعاتو انستیتیوټ (ISHK)
لخوا چاپیږي چې د امریکا د متحده ایالتونو یوه ناګټندویه اداره ده.

طباعتي حقوق Copyright © 2012 د انساني علومو د مطالعاتو په انستیتیوټ پورې اړه لري
تاوونکي *فاطمه او کیږدۍ* د کتاب Copyright © 2006 د متن د چاپ حق ادریس شاه ته خوندي دی
تاوونکي *فاطمه او کیږدۍ* د کیسې د انځورونو Copyright © 2006 د چاپ حق ناتاشا دلمار ته خوندي دی

# لړ لیک د عنوانونو فهرست

د هوپو د کتابونو د لړۍ پېژندنه ........................................................ 1
د دې کیسې موخه ........................................................ 1
دا لارښود څنګه له تاسې سره مرسته کولای شي........................................................ 2
په ټولګي کې د کیسو د کارولو لپاره درسي پلانونه ........................................................ 3
" تاوونکې فاطمه او کیږدۍ" د کیسې درسي پلان
لومړۍ ورځ: د کیسې لومړۍ لوستنه ........................................................ 4
دوهمه ورځ: د کیسې دوهمه لوستنه ........................................................ 7
د لوستنیزو او لیکنیزو مهارتونو لوړاوی- دوهمه ورځ ........................................................ 9
د لغوي فعالیتونو رامنځ ته کول ........................................................ 10
درېیمه ورځ: د کیسې درېیمه لوستنه ........................................................ 13
د لوستنیزو او لیکنیزو مهارتونو لوړاوی- درېیمه ورځ ........................................................ 16
د کیسې کلیدي مفکورو باره کې فکر کول او لیکل ........................................................ 16
د مهمو مفکورو معلومول (د خپلو اهدافو لاسته راوړلو لپاره ضروري مشخصاتو
رامنځ ته کول) – پر کلیدي مفکورو نظر وړاندې کول ........................................................ 16
څلورمه ورځ: آزاده مطالعه ........................................................ 19
الف: په لوړ غږ د کیسې لوستنه ........................................................ 19
ب: د مهمو مفکورو معلومول – د خپلو اهدافو لاسته راوړلو لپاره د مهارتونو رامنځ ته کول........ 20
پنځمه او شپږمه ورځ: د ټولګي یا کور نور فعالیتونه ........................................................ 23
الف: کښنه (رسم) او نکل کول ........................................................ 23
ب: د کیسې په اړه لیکل ........................................................ 25
ت: د فاطمې د سفر نقشه ........................................................ 26
د: په ځانګړې ادا د کیسې لوستنه ........................................................ 28
هـ: د ننداري (تمثیل) په بڼه د کیسې وړاندې کول ........................................................ 29
له کورنۍ سره د کیسې شریکول ........................................................ 31
له کورونو د کیسو راټولول ........................................................ 32
*همداراز په دې لارښود کې:*
د یو ساده کتاب د جوړولو لارښوونه
د فاطمې د سفر نقشه
د زده کوونکو د پرمختګ د ارزونې چارټ
د ټولګي د پرمختیا د ارزونې چارټ

آغلې ډاکټر ډینس نیسل د انساني علومو د مطالعاتو په انسټیټوټ د لومړۍ زده کړې رئیسه او هغه پر اغېزمن تدریس ورکشاپونه او سیمنارونه دایروي. نوموړې د ګنو ښوونیزه سلاکاره او آسانګره پاتې شوې. دغه راز د تدریس د میتودونو په اړه د ۱۰ کتابونو، او د سوادزده کړې په اړه د ګنو مقالو لیکواله ده، او په دې سربېره د "ځوانو ذهنونو د راویښونې"Awakening Young Minds" او "From Dubs to Marbles" د زده کړه ییزو کتابونو سمونګره هم ده.



## کله چې تاسې ته کتاب ورسېد...

دلته په دې لارښود کې ډېر مهم فعالیتونه دي چې تاسې یې یوازې په کتاب ترسره کولای شئ. کله چې دا کتاب ټولګي ته د چمتو کېدو لپاره ولولئ، تاسې هغه فعالیتونه غوره کړئ کوم چې تاسې یې ستاسې سره د شته موادو په وسیله تر سره کولای شئ.

پدې لارښود کې تاسې او ستاسې زده کوونکي د لیک او رسامۍ لپاره د خپلو کتابونو جوړول زده کولای شي. که تاسې د خپلو زده کوونکو لپاره راغونډوونکي (کمپوز) کتابونه نه لرئ، نو هغوی د دې پر کارولو په ټولګیو او کورونو کې د لیکنو تمرینونو له لارې خپل د لیکنې مهارتونه ښه کولای شي.



# د هوپو د کتابونو د سلسلې پېژندنه

دغه کيسې له پېړيو پېړيو راهيسې په افغانستان او منځنۍ آسيا کې د خلکو پر ژبو دي. ښايي تاسې، يا ستاسې د کورنۍ کوم غړي به، له يوې يا دوو دغه ډول کيسو سره له وړاندې بلد ياست. دا کيسې يوازې دتفريح لپاره نه دي، بلکې داسې کښل (طرحه) شوي چې له موږ،تاسې سره د خپلو ځانونو او خپلې نړۍ په پېژندلو کې مرسته کوي. کله چې ښوونځي کم وي، له نکلونو څخه د زده کړې د وسيلې په توګه کار اخلو.

د پغمان اوسېدونکی ادريس شاه، پوره دېرش کاله عمر له دې فرهنګي ميراث څخه د لويانو او ماشومانو لپاره د کيسو په راټولولو، غوراوي، او ژباړلو تېر کړی دی. هغه د هوپو د کيسو د لړۍ ليکوال دی. دغه کيسې اوس په ټوله نړۍ کې خلک لولي او خوښوي يې.

ماشومان له دې کيسو څخه د خپلې پوهې د کچې او وس مطابق ګټه اخلي. ښايي ماشوم په سر کې د کيسې له يوازې يوې څېرې يا پېښې سره بلد شي، او ښايي تر ټولو څرګنده معنا يې درک کړای شي، خو له هرځل لوستلو سره ترې نورڅه زده کوي، او ورو ورو ورڅخه نوري معناګاني، نظريې او بصيرتونه لاس ته راوړي.

د دې کيسو په تکراري اورېدلو ماشومان له خپل ژوند سره بلدتيا زده کوي، او په بېلابېلو حالاتو کې د خلکو د سوچ او غبرګون په اړه فکر کولو ته مجبورېږي. دغه نکلونه له ماشومانو سره د سوچ او کار د اغېزمنو او نااغېزمنو بڼو او طريقو ترمنځ په توپير کولو کې مرسته کوي. دغه کيسې ماشومانو ته په ځان باور، پر غيرمنطقي وېرو (ډارونو) د برلاسي وړتيا، او د تاوتريخواليزې (متشدده) مقابلې پر ځای د سوله ييز تفاهم خپلولو د لارو چارو پر شمول نورې ډېرې غوره بېلګې ورښيي.

## د دې کيسو موخه

تاسې به په ټولګيو کې د هوپو د کيسو په کارولو سره ګټې لاسته راوړنې ولرئ. تاسې به:

- زده کوونکي وهڅوئ چې د افغانستان د شتمن کلتور په قدر پوه او خوند ترې واخلي کوم چې يو نسل نه بل نسل ته پاتې دي؛
- ماشومان دې ته وهڅوئ چې د افغانستان د نکلونو، چې له پېښتونو (نسلونو) راهيسې د خلکو پر ژبو دي، قدر وکړي، او خوند ترې واخلي؛
- د کيسې ژبني جوړښتونه او کلمې داسې وکاروئ چې له ماشومانو سره به د ژبې په اغېزمنه کارونه کې مرسته وکړي؛
- ماشومانو ته د دې فرصت ور کړئ چې د کيسې د مطالبو په اړه داسې فکر وکړي چې د هغوی د ژوند په بهاينه کې ورسره مرسته وکړي؛
- د دې ادبي ټوټو د ګډې لوستنې له لارې له زده کوونکيو سره خپلې اړيکې غښتلې کړئ؛
- ماشومانو ته داسې لارې وروښاياست چې کيسې له خپلو کورنيو سره ګډې کړي؛

- زده کوونکی به پخپله قصه ویونکی شي، او د افغانستان د قصې ویلو دود به بیا راژوندی کړي.

# دا لاربښود څنګه له تاسې سره مرسته کولای شي

ویل، لوستل، لیکل او فکر کول ټول یو د بل سره تړلي دي. موږ باید د زده کوونکو سره مرسته وکړو چې دا هر مهارت په دوی کې وده وکړي چې په نتیجه کې دوی ښه لیکونکي او لوستونکي شي.

چون د زده کړې په ځینو برخو کې د حفظ کولو له پاره ځای شته، کله چې زده کوونکی د معلوماتو له پاره د حفظ کولو طریقه استعمالوي دوی ته اکثراً د دې زمینه نه وي برابره چې د دې ټول بهیر په اړه فکر وکړي چې دوی ګنې حفظ کوي. زده کوونکو ته د دې درس ورکول چې وړاندوینه وکړای شي، د داسې سوالونو پوښتنه او ځواب چې کوم سم ځواب و نه لري، له دوی سره مرسته کوي چې زده کړې او د لوړې سویې فکر کولو مهارت سره یې مینه پیدا شي لکه جدي، منطقي، تحلیلي، استنباطي او مقایسوي فکرونه. زده کوونکي هڅوي چې خپل فکر څرګند کړي او په قصه مباحثه کول د دوی فکر تنبهه کوي او له دوی سره مرسته کوي چې ولولي او ولیکي.

دا قصې د پیړیو لرغونتوب لري چې له یو کس نه بل کس ته له نسلونو په ټول افغانستان کې تکرار شوي دي. په دې طریقه، د پوهې او تکرار له لارې، د دوی تازه بصیرت هڅول کیږي او د خلکو په وړاندې فکر کولو کې یې انعطاف رامنځ ته کېږي. د دې پخوانیو قصو په ویلو او زموږ د قصې ویلو غني دود د درلودلو له کبله به موږ ټول مستفید شو.

دا لاربښود، د هوپو د کیسو د لړۍ د یوې کیسې د صنفي استعمال لپاره تاسې ته ګام په ګام درسي پلانونه درکوي. که لاندې ټکي په پام کې وساتئ نو زده کوونکي به له دې کیسو څخه ډېر څه ترلاسه کړي:

- د دې لپاره چې زده کوونکي له کیسې سره بلد شي، او پخپله د کیسې تر لوستلو وړاندې د هغې پر معناګانو پوه شي، هغوی باید دا کیسې څو څو ځله واوري. دا لاربښود به زده کوونکیو ته د کیسې د لوستلو، بیا پر هغوی د کیسې د لوستلو، او بالآخره، د زده کوونکیو ترمنځ په خپلو کې د کیسو د لوستلو په اړه ځینو مهمو ټکیو ته ستاسې پام ور واړوي.
- زده کوونکي به هله په دې کیسه ښه پوه شي، او ذهن ته به یې وسپاري چې له تاسې او خپلو نورو ټولګیوالو سره پرې بحث وکړي، او د کیسې پېښنو ته له خپلو تجربو سره تړاو ورکړي. دا لاربښود به په بحث کې د زده کوونکیو د راښکېلولو (شاملولو) د لارو چارو په اړه مشورې درکړي، چې زده کوونکي په خپل تعبیر هغه معناګانې بیان کړای شي چې کیسې یې د دوی لپاره لري.
- زده کوونکي به هغه وخت له کیسو ښه خوند واخیستلای شي چې په زړه پورې توګه د کیسو پېښنو ته غبرګون وښیي، لکه دا چې د کیسې صحنې رسم کړي، کیسه بل چا ته ووایي، د کیسې صحنې تمثیل کړي، او د کیسې په اړه لیکنې وکړي. دا لاربښود به د هغو خوندورو فعالیتونو د اجراء په اړه، چې له کیسې سره تړاو لري، معلومات درکړي.
- زده کوونکي له دې کیسو څخه بېلابېل لوستنیز اوژبني مهارتونه زده کوي، چې له هغوی سره د هغوی د سواد په لوړاوي کې مرسته کوي. دا لاربښود به د لوستنیزو او لیکنیزو مهارتونو د ښوونې په اړه معلومات درکړي. ځینې فعالیتونه له نورو څخه ډېر پرمختللي دي. تاسې هغه فعالیتونه غوره کولای شئ کوم چې ستاسې د زده کوونکو لپاره ډېر مناسب وي.

- که شاګردان هغه څه چې زده کوي، له خپلو کورنیو سره شریک کړي، نو له کیسې به لا ډېر خوند واخلي. دا لارښود به د ماشومانو لخوا له کورنیو سره د زده کړو او کیسو د شریکولو لارې چارې در وښیي.

## اندازه کول او ارزونه

د ښوونکي په صفت، تاسې به ضرورت ولرئ چې د هر مهارت په اړه چې تاسې ورته درس ورکوئ، د هر زده کوونکي پرمختګ اندازه او وارزوئ. د انکشاف یا پرمختګ چارټونه به له تاسې سره مرسته وکړي چې دا داسې وکړئ. د دې لارښوود په اخر کې ځینې چارټونه شته دی چې تاسې یې د زده کوونکو د پرمختګ د ثبتولو لپاره له سره جوړولای شئ: یو **د زده کوونکو د پرمختګ د ارزونې چارټ** چې تاسې به ورته د هر زده کوونکي لپاره ضرورت ولرئ، یو د **د ټولګي د پرمختګ د ارزونې چارټ** چې تاسې سره به مرسته وکړي چې د ټول ټولګي پرمختګ په کې ثبت کړئ. په لارښوود کې د هر فعالیت وروسته، د **مهارت د پرمختګ د اندازه کولو** د نمرې ورکولو آله هم شته چې ستاسې سره مرسته کوي چې د زده کوونکو پرمختګ وټاکئ یا یې اندازه کړئ.

په دې چارټونو کار کول داسې دي لکه تاسې چې زده کوونکي هڅوئ چې په صنفي فعالیتونو کې برخمن شي، او ځان ډاډه کړئ چې د هر فعالیت د بشپړولو په پای کې د ورځې په اخر کې دا چارټ د هر زده کوونکي لپاره ډک کړئ. نو په دې ډول به تاسې هغه زده کوونکي چې نورې مرستې او هڅونې ته اړه لري وپیژنئ. دا د پرمختګ چارټونه د کتاب او د ټولو فعالیتونو د بشپړېدو پورې له ځان سره په یو خوندي ځای کې وساتئ.

کله چې تاسې او زده کوونکو مو د دې کتاب استعمال بشپړ کړ، د هر زده کوونکي په پرمختګ مرور وکړئ، د هغوی معلومات له پرمختګ چارټ څخه د ارزونې راپور ته کوم چې خپل رییس ته استوئ، منتقل کړئ.

# په ټولګي کې د کیسو د کارولو لپاره درسي پلانونه

لاندنې ګام په ګام وړشلي درسي پلانونه د ورځو پر اساس تنظیم شوي، داسې چې "لومړۍ ورځ" یې هماغه ورځ وي چې کیسه صنف ته ور پېژنئ. تاسې باید، که ممکنه وي، د اړوند درسي پلان ټول ګامونه، پر اړونده ورځ په صنف کې پلي کړئ. دا به غوره وي چې پلانونه په ترتیب پلي کړئ (لومړۍ ورځ، دوهمه ورځ، درېیمه ورځ او...)، خو لازمه نه ده چې هره ورځ د کتاب له مخې کار وکړئ. د مثال په توګه، د دوهمې ورځې پلان ښایي تر لومړۍ ورځې یوه ورځ وروسته وکاروئ، او ښايي یوه یا دوه ورځې وروسته یې وکاروئ. د دوهمې ورځې د لغتونو فعالیتونه باید د زده کوونکو د اړتیاوو پر لیدلو څو ورځې اجرا شي، یا ممکن پرمختللیو زده کوونکو ته یې هیڅ تدریس نه کړئ. تاسې ښایي د درس لپاره د تیاري په منظور د ځینې کارونو ترسره کولو ته اړتیا ولرئ. د یوه درس تر تدریس یوه یا دوه ورځې وړاندې درسي پلان ولولئ، چې د پلان پر مرحلو او ګامونو پوه شئ. تر "د درس لپاره تیاری" سرلیک لاندې مشورې ولولئ، چې د اړینو تیاریانو په هکله معلومات ترلاسه کړئ.

# درسي پلان
# تاوونکې فاطمه او کیږدۍ

## لومړۍ ورځ: د کیسې لومړۍ لوستنه

### د درس لپاره تیاری



- صنف ته تر راتګ وړاندې، له ځان سره په لوړ غږ د کیسې لوستنه تمرین کړئ، چې وروسته بیا په کیسه پوهېدلې یاست، او په صنف کې یې روانه ولوستلای شئ. کیسه په ځانګړې وزم او ادا ولولئ! کوښښ وکړئ چې د مختلفو کرکترونو لپاره مختلف آوازونه استعمال کړئ. کله چې کیسه په ښه طریقه لولئ نو په حقیقت کې زده کوونکیو ته دا ښیاست چې کیسه بیا په خپل وار څنګه ولولي.
- د کیسې تر لوستلو وړاندې، په کیسه کې درې یا څلور داسې ځایونه په نښه کړئ چې هلته وقفه وکړئ، او شاګردانو ته د دې فرصت ورکړئ چې د کیسې د راتلونکیو پېښو وړاندوینه (پیشبیني) وکړي. له زده کوونکیو د داسې وړاندوینو غوښتنه (په داسې حال کې چې نه پوهېږي چې وړاندې به څه کېږي)، د هغوی د سوچ کولو د وړتیا د لوړاوي یوه ډېره ښه لاره ده. دغه راز، دا چاره د هغوی د کیسې اورېدنې هدف روښانه کوي. د هغوی هدف دادی چې پوه شي چې آیا وړاندوینې یې سمې دي، او که ناسمې! د کیسې په منځ کې د وقفې لپاره ښه ځای هماغه دی چې هلته د راتلونکې پېښې په اړه تلوسه (اضطراب) موجود وي.

## د کیسې د لومړۍ لوستنې کړنې (فعالیتونه)

۱. کتاب داسې پورته ونیسئ چې شاګردان یې پوښ ولیدلای شي. د دې لپاره چې شاګردان د کتاب پوښ له نیږدې ولیدلای شي، کولای شئ د شاګردانو ترمنځ تګ راتګ وکړئ. د کتاب له ښودلو سره یوځای، کتاب ور وپېژنئ، او د کیسې او لیکوال په اړه یې لږ څه معلومات ورکړئ. داسې څه ووایاست:

> *دا کیسه له څو کلونو راهیسې د نړۍ په څو څو هیوادونو کې ویل شوې ده. ځینې خلک ورته "ښوونیزه کیسه" وایي، ځکه چې تاسې د دې کیسې په لوستلو، او د هغې په اړه په فکر کولو سره، چې موږ یې دلته کوو، د ځان او نورو په اړه څه زده کولای شو.*

> *د دې کیسې ګڼې نسخې موجودې دي. د دې نسخې لیکوال ادریس شاه دی. هغه د پغمان ولسوالۍ یو پوه سړی وو. هغه په خپل ژوند کې، د لویانو او وړوکیو (کوچنیانو یا ماشومانو) لپاره ګڼ کتابونه لیکلي.*

*اوس زه تاسې ته کیسه لولم. ښه غوږ ونیسئ، او زما له لوستلو سره یوځای انځورونو ته هم ګورئ. زه به کله کله وقفه کوم، او له تاسې به پوښتنه کوم چې تاسې څه فکر کوئ وړاندې به څه وشي!*

*ښایي تاسې په ډاډه توګه ونه پوهېږئ چې وړاندې به څه کېږي، خو تاسې کولای شئ د کیسې اوریدلې برخې ته په کتنې سره یوڅه و انګېرئ (له ځانه یو څه ووایاست). ښه غوږ ونیسئ، چې بیا وروسته د پاتې کیسې په اړه ښې انګېرنې وکړای شئ!*

*کله چې لوستنه پای ته ورسوم، انځورونه به بیا در وښیم، او تاسې به راته ووایاست چې له کیسې مو څه په یاد پاتې شول.*

*اوس راځئ چې د کیسې ویل پیل کړو...*



۲. کتاب پرانیزئ، او مخ یې زده کوونکیو ته ور واړوئ، ترڅو د لوست د دایرې ټول زده کوونکي ستاسې له لوستلو سره یوځای پر پاڼو باندې انځورونه ولیدلای شي. کیسه ورو ورو او په وزم او ادا لولئ، او د پاڼې تر اړولو وړاندې لږه وقفه کوئ، چې زده کوونکیو ته د اورېدلې برخې په اړه د فکر کولو، او انځورونو د لیدلو فرصت ورکړئ. کولای شئ په ټولګي کې وګرځئ را وګرځئ، چې شاګردانو ته له نیږدې څخه د انځورونو لیدلو فرصت ورکړئ.

۳. هرځل چې له زده کوونکیو څخه د وړاندوینو د اورېدلو لپاره وقفه کوئ نو لاندې پوښتنې وکړئ:

*څه فکر کوئ چې په کیسه کې به وړاندې څه وشي؟*

*ولې فکر کوئ داسې به وشي؟ د کیسې کومه برخه په دې دلالت کوي چې داسې به وشي؟*

د بېلګې په ډول، کله چې د فاطمې پلار هغې ته وویل چې دوی په سفر روانېږي، له زده کوونکو وپوښتئ:

*څه فکر کوئ په دې سفر کې به څه پېښ شي؟* کله چې زده کوونکي خپل نظرونه ورکړي، وپوښتئ: *ولې داسې فکر کوئ؟*

زده کوونکیو ته ووایاست چې د ټولو وړاندوینې سمې دي، ځکه چې هغوی ښه فکر کړی، او دا چې د راتلونکیو پېښو په اړه د هغوی د وړاندوینو اختلاف پر ځای خبره ده. له بېلابېلو زده کوونکیو غوښتنه وکړئ چې وړاندوینې وکړي. کله چې یو زده کوونکی یو نظر وړاندې کوي، نو له نورو زده کوونکیو پوښتنه وکړئ چې آیا دا نظر سم دی، او که ناسم، او له هغوی څخه دلیل هم وغواړئ. زده کوونکي د بحث لپاره د نظریاتو وړاندې کولو ته وهڅوئ. د دې لپاره چې ګڼو زده کوونکیو ته د وړاندوینو فرصت ورکړئ، او ټولګیوال ښه بحث وکړای شي، خبرو اترو ته کافي وخت ورکړئ. او بیا د راتلونکیو تم- ټکیو(وقفه ځایونو) پر لور لوست ته دوام ورکړئ.

۴. کله چې کیسه پای ته ورسوئ، زده کوونکیو ته د اورېدلو او د پېښو د وړاندوینو شاباسی ورکړئ او هغوی ته ووایاست چې اوس باید هغوی د کیسې بیاکتنه وکړي. کتاب بیا پرانیزئ، کیسه پیل کړئ، او لوړ یې ونیسئ چې زده کوونکي یې انځورونه ولیدلای شي. له زده کوونکیو څخه غوښتنه وکړئ چې هغو لومړنیو انځورونو ته وګوري، او


ور په یاد کړي چې د کیسې په پیل پیل کې څه شوي وو. زده کوونکیو ته د کیسې د ور په زړه کولو لپاره لاندې پوښتنې وکاروئ:

*دلته ښودل شوې څېرې څوک دي؟*

*د کیسې په دې برخه کې څه کېږي؟*

**۵.** بیا د کتاب وړاندې مخونه را واړوئ او همدغه پوښتنې تکرار کړئ. په همدې توګه، چې له زده کوونکیو غوښتنه کوئ انځورونو ته په کتنه تېره کیسه ورپه زړه کړئ، کیسې ته دوام ورکړئ. هرځل له یوه نوي زده کوونکي څخه پوښتنه کوئ، چې هر زده کوونکی د خبرو وار ترلاسه کړي. که له زده کوونکیو څخه د کیسې ځینې برخې هېرې وي، نو د کیسې هماغه برخه په خپلو الفاظو وریاده کړئ، او یاهماغه برخه له سره ورته ولولئ.

**۶.** د کیسې په ښه اورېدا، او د کیسې د ډېرې برخې په یاد ساتلو د شاګردانو ستاینه کوئ. هغوی ته ووایاست چې دا کیسه به په دې نیږدې ورځو کې یوځل بیا هم سره ولولئ او بحث به وربانديې وکړئ.



**۷.** د اخیرې فعالیت په توګه، هر زده کوونکي ته کتاب ورکړئ. له هر زده کوونکي وغواړئ چې کتاب په دقت سره بیا وګوري، او په رسامۍ کې ښودل شوو شیانو ته نومونه ورکړي. د بېلګې په ډول، د کتاب په لومړیو څو مخونو کې زده کوونکي به نظر کوي، د تار او ستنې خلك، کلي او کښتۍ. د نومونې (تر ټولو کوچني توکي موندلو لپاره) فعالیت به زده کوونکیو ته د دې وار ورکړي چې انځور په ځیر وګوري (چې څناور پیدا کړي)، او د مختلفو رسم شویو شیزونو نومونه زده کړي، چې ځینې یې ښايي د هغوی لپاره ناآشنا وي.

له زده کوونکو کتابونه راټول کړئ او تر هغې یې وساتئ چې د ټولګي ټول فعالیتونه پای ته ورسیږي. زده کوونکو ته ووایاست چې د ټولو درسونو د پای ته رسیدو وروسته به دوی ته خپل کتابونه بیرته ورکړل شي.

## د مهارت د پرمختیا (انکشاف) اندازه کول د لومړۍ ورځې لپاره: وړاندوینه کول

*د پرمختیا درجه ۱ - ۴: دا درجې د خپلو زده کوونکو د انکشاف د ټاکلو لپآ ره د زده کوونکو او ټولګي د انکشاف په چارټ کې چې د دې لارښود په اخر کې درکول شوی دی، استعمال کړئ.*

درجه ۱: هغه زده کوونکي چې وړاندوینه نه شي کولای، کله چې د وړاندوینې غوښتنه ترې وشي، اویا داسې وړاندوینې وکړي چې د موجودو معلوماتو سره هیڅ منطقي ارتباط و نه لري.

درجه ۲: هغه زده کوونکي چې د یو منطقی تسلسل په نتیجه کې د موجودو معلوماتو په بنا د وړاندوینې توان لري، او د خپلې وړاندوینې د تقویه کولو لپاره دلیل وړاندې کوي. زده کوونکی شاید او یا شاید هم نه کله چې لولي وړاندوینه په یاد و نه لري او هغه نوي معلومات چې د وړاندوینې پورې ارتباط لري و نه پیژني.

درجه ۳: هغه زده کوونکي چې د یو منطقی تسلسل په نتیجه کې د موجودو معلوماتو په بنا د وړاندوینې توان لري، او د خپلې وړاندوینې د تقویه کولو لپاره دلیل وړاندې کوي، نوي معلومات چې د وړاندوینې پورې ارتباط لري پیژني، او وړاندوینې همهغسې ساتي یا یې عیاروي.

درجه ۴: هغه زده کوونکي چې ډېر ذکي دي او په قصه کې موجود معلومات د وړاندوینې د جوړولو او توضیح لپاره استعمالوي او د وروستیو معلوماتو په وسیله خپله وړاندوینه همهغسې ساتي او یا یې عیاروي.

# دوهمه ورځ: د کیسې دوهمه لوستنه



دلته د کیسې د دوهمې لوستنې لپاره ځینې مشورې بیان شوي.

## د لوست لپاره تیاری

- د کیسې د لوستلو تمرین له سره تکرار کړئ، چې دا ځل یې په لا اغېزمنه توګه ولوستلای شئ.
- د پنځم ګام د تیارۍ لپاره کولای شئ په پیل کې زده کوونکي په درې کسیزو ډلو ووېشئ، چې ستاسې د لارښوونو پر مهال زده کوونکي وپوهېږي چې له چا سره خبرې وکړي. له هغوی غوښتنه وکړئ چې له نیږدې ناستو شاګردانو سره درې کسیزه ډلې جوړې کړي.
- د نهم ګام د تیارۍ لپاره د ځیزونو او ځېرو هغه لست، چې په لومړۍ ورځ مو پیل کړی، چمتو وساتئ.
- که تاسې غواړئ چې "لغتونو/ وییونو فعالیتونه" فعالیت استعمال کړئ، د دې دوهم ځل لوستلو وروسته یې ښه وخت دی. همدا اوس یې ولولئ چې ډاډه شئ چې د دې مراحلو په تعقیب پوه یاست او هغه مواد چې د دې لپاره پکار دي.

## د کیسې د دوهمې لوستنې کړنې (فعالیتونه)

۱. کتاب لوړ ونیسئ، او له زده کوونکیو د کیسې د سرلیک، لیکوال، او د لیکوال د لاسته راوړنو په اړه پوښتنې وکړئ.

زده کوونکیو ته ووایاست چې بیاهم په بشپړه توجه غوږ ونیسي، ځکه چې، د کیسې له ختمېدا وروسته به بیا هم له هغوی څخه انځورونو ته په کتنې، د کیسې د وریادولو غوښتنه کوئ، او هم به ترې دا پوښتنه کوئ چې د کیسې کومه برخه د هغوی لپاره تر ټولو مهمه وه. هغوی ته ووایاست چې داځل به د هغوی ډېرو داسې ځایونو ته ور پام شي، چې د لومړۍ لوستنې پرمهال یې نه وو ور پام شوی.

۲. د لومړۍ ورځې په څېر، د انځورونو له ښودلو سره یوځای، کیسه سرترپایه ولولئ. کیسه ورو ولولئ چې زده کوونکي کیسه سمه تعقیب کړای شي، او بلې برخې ته د اوښتلو پرمهال د پېښو په اړه د فکر کولو فرصت ولري.

۳. کله چې لوستنه پای ته ورسوئ، بېرته د کتاب لومړنۍ پاڼې پرانیزئ، او داسې یې ونیسئ، چې زده کوونکي یې انځورونه ولیدلای شي. د لاندې پوښتنو مطرح کولو له لارې، له زده کوونکیو غوښتنه وکړئ چې لومړیو انځورونو ته وګوري، او هغه څه ور په زړه کړي چې د کیسې په سر کې واقع شوي وو.

*دلته ښودل شوې ځېرې څوک دي؟*

*د کیسې په دې برخه کې څه کېږي؟*

۴. بیا وړاندې دوو پاڼو ته ولاړ شئ، او همدغه پوښتنې بیا تکرار کړئ. په همدې طریقه دوام ورکړئ، چې زده کوونکي د هرې پاڼې انځورونو ته په کتلو، زړې پېښې ور په زړه کړي. زده کوونکیو ښايي دا ځل په کیسه کې نور څه موندلي وي، او ښايي د کیسې د پېښو د ور په زړه کولو پر مهال د ویلو لپاره ډېر څه ولري. هر ځل له یوه نوي زده کوونکي څخه پوښتنه کوئ، چې په دې توګه، ډېرو زده کوونکیو ته د خبرو وار ورسېږي. که له زده کوونکیو څخه د کیسې کومه برخه هېره وي، نو د کیسې هماغه برخه په خپلو الفاظو کې ورته ووایاست، او یا هماغه برخه ورته ولولئ.

۵. کله چې مو ټول کتاب په همدې طریقه ولوست، او پر انځورونو، او پېښو مو بحث وکړ، کتاب بند کړئ، او شاګردانو ته ووایاست چې:



*په دې کیسه کې ګڼ شمېر په زړه پورې څېرې دي. ځینې یې ښايي داسې څوک در په زړه کړي چې پېژنئ یې، او د کیسې پېښې ښايي داسې پېښې در یادې کړي چې تاسې ته در پېښې شوي دي. تاسې هریوه د کیسې د اورېدنې پر مهال، د یوه جلا شي په اړه فکر کاوه. اوس زه له تاسې څخه غوښتنه کوم چې د لاندې پوښتنو په اړه فکر وکړئ:*

*د کیسې کومه برخه ستاسې لپاره تر ټولو مهمه وه؟*

*دغې برخې ستاسې لپاره ولې ځانګړې اهمیت درلود ؟*

*د ځواب په اړه یوه شېبه فکر وکړئ، او بیا به زه له تاسې وغواړم چې خپل ځوابونه لومړی خپل یوه ملګري ته ووایاست. بیا به زه له یو څو کسانو وغواړم چې ټول ټولګي ته ووایي چې څه ورته تر ټولو مهم برېښېدل.*

د دې پوښتنې ځوابونه به مختلف وي. زده کوونکي به بېلابېل ځوابونه ورکړي، ځکه چې هره کیسه ګڼې مهمې برخې درلودلای شي، او اورېدونکي به، د وګړیو په توګه، د تر ټولو مهمې برخې په اړه مختلف نظریات ولري. د بېلګې په ډول، ځیني زده کوونکي به فکر وکړي چې د فاطمې دا توان چې خپله ټوله زده کړه یې سره یوځای او کېږدۍ یې واوبدله د کیسې تر ټولو مهم ځای دی. ځینې نور به فکر وکړي چې د هغې له شهزاده سره واده د کیسې تر ټولو مهم پړاوو وو. **په دې کې غلط ځواب نشته.** د شاګردانو انتخاب د هغوی د نظریاتو پر سر د بحث په اندازه مهم نه دی.

۶. زده کوونکیو ته د فکر کولو لپاره یوه یا دوه دقیقې وخت ورکړئ، او بیا یې په درې کسیزه ډلو ووېشئ، چې له یو بل سره د کیسې د تر ټولو مهمې برخې په اړه خبرې وکړي. ښايي تاسې د شاګردانو په منځ کې وګرځئ راوګرځئ، او د هغوی خپل منځي خبرې اترې واورئ. تاسې د هغوی نظریاتو ته د ځواب ویلو اړتیا نه لرئ، یواځې سر خوځول مو کافي دي.

۷. بیا، له څو تنو زده کوونکیو څخه وغواړئ چې ټول ټولګي ته د هغه څه په اړه خبري وکړي چې د دوی لپاره په کیسه کې تر ټولو مهم برېښي. هغوی دې ته وهڅوئ چې یو د بل خبرې په غور واوري، ترڅو معلومه کړي چې د کیسې څومره بېلابېلې برخې مهمې ګڼل کېږي.

۸. د زده کوونکیو ستاینه وکړئ (شاباسی ورته ووایاست) چې ښه غوږ یې نیولی وو، د کیسې ډېرې برخې یې ور په زړه شوې او د مهمو برخو په اړه یې ښه فکر وکړ. هغوی ته ووایاست، چې تاسې به په نېږدې راتلونکي کې بیاهم کیسه په ګډه سره ولولئ، او بحث به پرې وکړئ.

۹. له ټولګیوالو غوښتنه وکړئ چې د کیسې د څیزونو او څېرو د نومونو هغه لست ته نور الفاظ او نومونه ور زیات کړي چې په لومړی ورځ مو پیل کړي وو.

| د مهارت د انکشاف اندازه کول د دویمې ورځې لپاره: تکرار او نتیجه ګیري |
|---|
| *د پرمختیا درجه ۱ - ۴: دا درجې د خپلو زده کوونکو د انکشاف د ټاکلو لپآره د زده کوونکو او ټولګي د انکشاف په چارټ کې چې د دې لارښوود په اخر کې درکول شوې دي، استعمال کړئ.* |
| درجه ۱: هغه زده کوونکي چې د قصې ډیرې برخې یې نه وي په یاد او د نتیجه ګیری لپاره ښه دلایل نه شي ویلی، د قصې اصلي برخې یې بل قسم تعبیر کړي وي، او ان د ښوونکي په ملاتړ هم خپلې نتیجه ګیری ته دلایل نه شي وړاندې کولای. |
| درجه ۲: هغه زده کوونکي چې د قصې یو څه برخې یې په یاد وي او کولای شي چې څه ساده نتیجه ګیری وکړي، کیدای شي یو څه ګډه وډه یا مبهمه وي یا کیدای شي یو څه د متن د منطقې ملاتړ (حمایې) څخه لرې وي. |
| درجه ۳: هغه زده کوونکي چې قصه یې په یاد وي او کولای شي چې ساده نتیجه ګیري وکړي، او د هغې لپاره کافي دلایل هم وړاندي کړي، خو یو څه عمومي وي. |
| درجه ۴: هغه زده کوونکي چې قصه یې زده وي او موضوع ته نږدې نتیجه ګیري وکړي، کیدای شي څه مشکلات ولري. موثر دلایل وړاندي کړي او همیشه د موضوع په باره کې مشخص وي. |

# د لوستنیزو او وینیزو مهارتونو لوړاوی – دوهمه ورځ

زده کوونکي میلان لري چې یو ډول لغتونه په وینا او لیکنه کې بیا بیا وکاروي. د الفبا لیسټ یوه ښه لار ده چې زده کوونکي وهڅوي تر څو نوي لغتونه زده او د یو ډول لغتونو تکراري استعمال څخه ډډه وکړي. زده کوونکي به ډېرو لغتونو ته لاسرسی ولري که چیرې دوی خپل لغتونه د الفبا په لیستونو کې تنظیم کړي. تاسې او ستاسې زده کوونکي د ټولګي لغتونو لیسټ پر چارټ پاڼه جوړولې او د فعالیتونو پر مهال پرې نور لغتونه ورډېرولی شي. لدې پرته، زده کوونکي کولای شي خپل د الفبا لغتونو لیسټ د کمپوزیشن په خپل کتابونو کې ولري.

له یو څه وخت وروسته، دوی د دې ټولو لغتونو "ملکیت" احساسوي. د الفبا جوړښت کارول زده کوونکي ننګوي، او د هغوی لپاره د خپلو لغتونو تنظیمولو یوه ښه لار ده. دې لیسټ کې به زده کوونکي د کیسې لغتونه ولیکي، کله چې دوی کیسه لولي.

## د درس لپاره تیاری

- یوه چارټ پاڼه پر تخته راوځړوئ او په دوه عمودي کرښو کې الفبا ولیکئ، د ټکو تر منځ مناسب ځای پرېږدئ تر څو پکې لغتونه ولیکلای شئ ( پدې برخه کې یې بیلګه ووینئ). پاڼه دومره راټیټه ځوړنده کړئ تر څو زده

کوونکي پرې لیکل وکړای شي. همداسې کولای شئ، په دوه عمودي کرښو کې پر تخته هم د زده کوونکو لاسرسی سره مناسب د الفبا توري ولیکئ.

- باوري کړئ چې هر زده کوونکی د دې فعالیت او کورني کار لپاره کتاب، د هغوی د کمپوزیشن کتاب (یا کرښې لرونکی پاڼه) او پنسل ولري. (د دې کتاب شا وګوری د لارښونې لپاره چې څنګه زده کونکی یو ساده کتاب جوړ کړي او کار ترینه واخلي.)

# د لغوي فعالیتونو رامنځ ته کول

کیسه زده کوونکو ته یو ځل بیا په لوړ غږ ولولئ.

زده کوونکو ته ووایاست چې دوی به د "تاوونکې فاطمه او کیږدۍ" په کیسه کې نوو زده کیدونکو لغتونو لیسټ جوړوي. دوی به وکولای شي چې وروسته لدې لیسټ څخه د خپلو زده کړو او لیکنو په تمرینونو کې ګټه واخلي. (که زده کوونکو د بل کتاب لپاره د الفبا لغتونو لیسټ جوړ کړې وي، که وغواړي نو پرېږدئ چې هغه لغتونه د"تاوونکې فاطمه او کیږدۍ" کتاب نوو لغتونو سره یوځای کړي.)

۱. **زده کوونکي د الفبا خپل لیسټونه جوړوي**: د الفبا په لیسټ کې د لغتونو ورجوړول پخپله لومړی د لغتونو پر خوښولو، ورپسې لغت د اړونده توري لاندې پر چارټ یا تختې لیکلو له لارې عملي وښایاست. کله چې مو په لیسټ کې د لغتونو لیکل وښودل له زده کوونکو وغواړئ چې په خط کشي شوې پاڼې یا په خپل کمپوزیشن کتابونو کې الفبا ولیکي، او د هر توري تر منځ یوه کرښه ځای پرېږدي. له هغوی وغواړئ چې له الف تر میم توري د پاڼې یو لورې او له ن تر یا پر بل لوري ولیکي (په راتلونکې پاڼه یې بیلګه وګورئ).

۲. له زده کوونکو وغواړئ چې په کتاب کې د خپلې خوښې لغتونه ولټوئ، زده یې کړي او د خپل الفبا تورو په لیسټ کې یې د اړونده توري لاندې ولیکي. (زده کوونکي باید د لغت پر معنا پوه شي مخکې لدې چې په خپلو لیسټونو یې ورډېر کړي. که پر لغت نه پوهیږي، وښایاست چې څرنګه د کیسې له محتویاتو د هغې پر معنا پوه شي، لکه چې لاندې ښودل شوي دي.)

**د کیسې له محتویاتو څخه د معناوو معلومول**: تاسې ممکن له خپلو زده کوونکو سره مرسته وکړئ چې د لغت ځای او کیسې محتوا پر لیدلو د لغت پر معنا پوه شي. دا ممکن داسې وشي چې لومړی له زده کوونکو وغواړئ د خپلې خوښې لغت خوښ کړي. کله چې زده کوونکو لغت خوښ کړ، له کتابه دې د لغت جمله ووایي. له زده کوونکو وپوښتئ چې په کیسه کې څه وشو چې له دوی سره یې د لغت معنا په درکولو کې مرسته وکړه. دا یوه بیلګه ده چې تاسې یې زده کوونکو ته وایلای شئ. ووایاست:

*ستاسې یادیږي کله چې د فاطمې لومړی کښتۍ ډوبه شوه او کیسه وایي "د کښتۍ غرکیدلو او سمندر څپو سره مخامخ کیدلو هغه ډېره ستړې کړې وه"؟*

*که غواړئ چې د "مخامخ کېدلو" په معنا پوه شئ، نو له ځانه ممکن وپوښتئ، "کیسه څه وایي چې څه د کښتۍ د غرکیدنې سبب شول؟ آیا فاطمه د کښتۍ له ډوبیدو وروسته په اوبو کې د ډېر وخت لپاره وه؟ کله چې پر ځوابونو پوه شوئ، نو پوه به شئ چې پدې برخه کې "مخامخ کیدنې" د څه پر معنا ده.*

۳. له لس دقیقو وروسته، د زده کوونکو جوړې (یا ډلې) جوړې کړئ او ورځخه وغواړئ چې له خپل ملګري سره پر لغت وغږیږي او ولې یې د خپل په الفبا لیسټ ورډېر کړی دی.

۴. د څو دقیقو له بحثه وروسته، له زده کوونکو په وار وغواړئ چې په تخته د مناسب توري په وړاندې لغت ولیکي. ورته وواياست چې د هر لوستل کیدونکي کتاب لپاره د لغتونو لیسټ جوړولی شي. د ټولګي د الفبا د لغتونو لیسټ لوړ ولړئ او په ټولو فعالیتونو کې پرې لغتونه ورډېر کړئ.

۵. ورته وواياست چې هغوی کولای شي هر څومره ویې (لغتونه) چې وغواړي د "تاوونکې فاطمه او کیږدۍ" لپاره یې ورډېرولی شي او دوی په نورو ورځو کې هم دا کار کولای شي. ورته وواياست چې د هر لوستل کیدونکي کتاب لپاره د لغتونو لیسټ جوړولی شي. د ټولګي د الفبا د لغتونو لیسټ لوړ ولړئ او په ټولو فعالیتونو کې پرې لغتونه ورډېر کړئ.

## د"تاوونکې فاطمه او کیږدۍ" د الفبا لیسټ لپاره د لغتونو ځینې بیلګې

**ا: استازی، اوبدونکی، اوبدلی، الکساندریه، استانبول**
**ب: بهیدل، بندیوانان، بازار، بهرنۍ**
**پ: پریوتل، بدمرغي، پاچا، پایه، پنبه**
**ت: توپان، تباه، تاوونکې، توپان، تمه**
**ج: جوړول، جوړونکی، جوړول، جاوا**
**ځ: ځوریدل**
**خ: خپګان، خرڅ، خوب، خوښی**
**د: دربار**
**ډ: ډوب**
**ر: رایادول، راغونډ، روزنه**
**ژ: ژغورنه، ژوندی، ژباړونکی، ژړل**
**س: سفر، سترې، سفرونه**
**ش: شهزاده**
**ښ: ښارګوټی، ښودل**
**غ: غم، غاړه**
**ق: قاصد**
**م: میړه، مطلب، مریی، مرستندوی، مالداره**
**ن: ناوړه**
**ه: هیڅوک**
**و: واده، وخت، وړاندوینه**
**ک: کار، کیسه، کورنۍ، کریت، کیږدۍ**

۶. د لغتونو معنا او وینا برخو پوهه تکرارول: تاسې به وغواړئ چې له کیسې لغتونه یا جملې وکاروئ تر څو په زده کوونکو کې د وینا بیلابیلو برخو زده کړې پوهه تکرار او باوري کړئ. دا ځیني فعالیتونه دي چې تاسې یې د دې هدف لپاره کارولی شئ:

**الف**: له زده کوونکو وغواړئ چې په کیسه کې د لغتونو جوړې ومومي او په جمله کې یې وکاروي تر څو د معنا زده کړه یې باوري شي. ورځخه وغواړئ چې جملې پخپلو کمپوزیشن کتابونو کې ولیکي. که وخت وي، نو له زده کوونکو وپوښتئ که کوم یو یې غواړي چې خپلې جملې ټولګي ته ولولي. ضرور نه ده چې جملې باید د کیسې جملې واوسي. د فقري ته اړتیا لرو چې رښتینې فقري نه له کیسه وکړه. هغوی ته د لغتونو جوړو بیلګې ورکړئ، لکه:

**ښکلی ځوان**
**بااعتباره مرستندویه**
**په ژوندي زړه**
**مالداره تاوونکی**
**لړ لړ یادیده**

د دې جوړو کاروونکو جملو بیلګې:

**" نو ځکه ټولو دې وړاندوینې ته په ژوندي زړه کتل."**

**"هغه د خپلې دې بدې پیښې وړاندې ورځې یوازې لږ لږ یادیده."**

تاسې به له زده کوونکو دا هم وغواړئ چې د لغتونو ورته جوړښتونه ولټوي او په نوو جملو کې یې همدا ډول وکاروي.


**ب**: له کیسې څخه جملې یا کوچني پاراګرافونه خوښ کړئ، ټاکلي لغتونه پرېږدئ، او له زده کوونکو وغواړئ چې د هرې جملې پوره کولو لپاره له لیست څخه لغتونه خوښ کړي. **تاسې ممکن زده کوونکو ته وښایاست چې دا تمرین به تاسې ته د غږیدا بیلابیلو برخو کارولو روزنه درکړي.** د بیلګې په ډول، تاسې ممکن ووایاست: *"یاد ولرئ چې مصدر تشریحي لغتونه دي، فعل د عمل لغتونه دي، قیدونه ځرنګوالی، کله او چیرته ښیي..."* او همداسې نور. دا لغتونه لیست یوه بیلګه ده:

**لغتونه چې انتخاب ترې کولای شئ:**

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **داسې کارونه** | **بازار** (اسم) | **وغړېدل** | **باچا** | **بحر خوا** |
| **قانع** (قید) | **خواخوږي** | **دننه** | **ځواب** (اسم) | **غلامان** (اسم) |

"ولې ـــــــــــ زما سره پیښیږي؟" [ *صفت خوښ کړئ* ]

". . .په کال دوه کې هغه خوښه او له ځانه ـــــــــــ وه." [له لیست څخه قید انتخاب کړئ]



**لغتونو کورنی کار**: [*له زده کوونکو وغواړئ چې خپل کتابونه او پنسلونه له ځانه سره کور ته یوسي. وریاده کړئ چې بیرته یې بیا له ځانه سره ټولګي ته راوړي.*]

زده کوونکو ته وړاندیز وکړئ که وخت ولري نو هغوی په کورونو کې تمرین کولای شي، ځکه تمرین به لدوی ښه لیکوالان جوړ کړي. ورته ووایاست چې تاسې به دوی ته وخت په وخت اړونده وړاندیزونه ورکوئ. دا یې دوه امکانات دي:

**الف**: له زده کوونکو وغواړئ چې د خپلو الفبا لیستونو څخه د لغتونو پر کارولو په خپل کمپوزیشن کتابونو کې جملې ولیکي.

**ب**: زده کوونکو ته ووایاست چې دوی خپل د لغتونو لیست خپلو کورنیو ته لوستلی شي، او په زړه پورې لوبه کولای شي چې وګوري په کورنیو کې یې څوک ډیر لغتونه کارولی شي. هغوی دا جملې په خپلو کتابونو کې لیکلی شي، که وغواړي، نو له نورو ټولګیوالو سره یې هم شریکولی شي.

**ارزونه: لغتونو مطالعه**

درجه ۱: زده کوونکې لوستلي یا پر بحث کیدونکي لغتونه نه پیژني یا یې د لغتونو په فعالیتونو کې نشي کارولی.

درجه ۲: زده کوونکې ځیني لغتونه د لغتونو په فعالیتونو کې کارولی شي.

درجه ۳: زده کوونکې د لغتونو په فعالیتونو کې ځو لغتونه په ښه توګه کارولی شي خو له خپله ځانه پکې نور نشي ورډېرولی.

درجه ۴: زده کوونکې کولای شي چې ځو لغتونه د الفبا له لیسټ څخه وکاروي او ورسره نور لغتونه هم راپیژني او کاروي یې.

# درېیمه ورځ: د کیسې درېیمه لوستنه



لاندې د کیسې د درېیمې لوستنې په اړه ځینې مشورې بیان شوې.

**درس ته تیاری**

- ښه به وي چې یوځل بیا د کیسې د لوستنې تمرین اجراء کړئ.
- په کیسه کې د وقفې ځایونه وټاکئ، چې له زده کوونکیو څخه د راتلونکیو پېښو په اړه پوښتنې وکړئ؛ (دوهم ګام ته مراجعه وکړئ).
- د درېیم ګام د تیارۍ لپاره، د درس په پیل کې زده کوونکې په درې کسیزه ډلو ووېشئ، تر څو هغوی وپوهېږي چې د لارښوونو پر مهال له چا سره خبرې وکړي.
- د اووم ګام د تیارۍ لپاره، د ځېرو او ځیزونو هغه لست چې په لومړۍ ورځ مو پیل کړی و، چمتو وساتئ.

## د درېیمې لوستنې کړنې

۱. کتاب لوړ ونیسئ، او زده کوونکیو ته ووایاست چې تاسې به په درېیم ځل هم هماغه کیسه لولئ، خو دا ځل به د وقفو په دوران کې له شاګردانو څخه د کتاب د راتلونکې پاڼې د پېښو په اړه پوښتنه کوئ.

۲. د کیسې په مختلفو برخو کې، د کتاب تر پاڼې اړولو وړاندې، لاندې پوښتنه مطرح کوئ، او له زده کوونکیو غوښتنه کوئ چې که ځواب ورکول غواړي نو لاس دې پورته کړي: *په راتلونکې پاڼه کې به څه پېښ شي؟*

له دې پوښتنې مطرح کولو ستاسې مقصد دا دی چې وپوهېږئ چې آیا د کیسې پېښې د زده کوونکیو په یاد پاتې دي، او کنه. هر ځل له یوه بېل زده کوونکي څخه د ځواب غوښتنه کوئ، او له نورو زده کوونکیو غوښتنه وکړئ چې د ځواب ورکوونکي خبرو ته سم غوږ ونیسي. کله چې یو کس ځواب ورکړي، له نورو غوښتنه وکړئ چې که له ځواب سره موافق وي، لاسونه دې پورته کړي. دا کار زده کوونکي هڅوي ترڅو ستا او نورو زده کوونکیو خبرو ته غوږ کېږدي. دغه راز به وپوهېږئ چې ټولګی تر کومه بریده له کیسې سره آشنا شوی، او د کیسې د پېښو تسلسل یې په ذهن کې پاتې دی. د زده کوونکیو ځواب چې هرڅه وي، تاسې باید ووایاست چې:

*راځئ ګورو چې وړاندې همداسې پېښېږي او که نه!*

بیا وړاندې دوو پاڼو ته ولاړ شئ، او متن یې ولولئ.

د ځینو زده کوونکیو به کیسه ښه په یاد وي، او سم ځواب به ورکړای شي. ځینې نور به داسې نه وي. که د زده کوونکیو کوم ځای هېر وي، او ناسم ځواب ورکړي نو ورته ووایاست چې:

*که مو اوس څه په یاد نه وي، هیڅ پروا نه کوي.*

*خو دا ځل سم غوږ ونیسئ، چې له کیسې سره ښه بلد شئ!*

۳. کله چې د کتاب لوستنه پای ته ورسوئ، زده کوونکیو ته ووایاست چې ته غواړې وپوهېږې چې آیا دوی د انځورونو له کتلو پرته کیسه را په زړه کولای شي او کنه. یو زده کوونکی ځواب ته راوبولئ، او له نورو غوښتنه وکړئ، چې که له ځواب سره موافق وي، نو لاسونه دې پورته کړي.

که ځواب ناسم وي، له یوه بل زده کوونکي غوښتنه وکړئ چې ووایي د کیسې په پیل کې څه پېښ شوي وو. یوځل بیا له نورو زده کوونکیو غوښتنه وکړئ چې د موافقت په صورت کې، لاسونه پورته کړي.

که یې ځواب سم وي، نو زده کوونکیو ته ووایاست چې که د کیسې د راتلونکي پېښې په اړه معلومات لري، لاسونه دې پورته کړي. یوځل بیا یو زده کوونکی ځواب ته را وبولئ، او له نورو زده کوونکیو غوښتنه وکړئ چې که موافق وي، لاسونه دې پورته کړي.

همدې کار ته ادامه ورکړئ، ترڅو زده کوونکي، د کیسې پېښې په ترتیب سره ذهن ته وسپاري.

۴. کله چې د کیسې پر انځورونو او پېښو له غږېدا سره یوځای، کیسه پای ته ورسوئ، کتاب بند کړئ، او له زده کوونکیو بیا غوښتنه وکړئ چې له خپل سیال ملګري سره لاندې پوښتنو ته د خپلو ځوابونو په اړه خبرې وکړي:

*د کیسې کومه برخه تا ته تر ټولو مهمه وه؟*

*دا برخه ستا لپاره ولې تر ټولو مهمه وه ؟*

زده کوونکیو ته یادونه وکړئ چې هغوی کولای شي د تر ټولو مهم شي په اړه نوی نظر ولري، او یا هم کولای شي، هماغه زوړ نظر، چې په تېرو بحثونو کې یې بیان کړی و، بیا تکرار او تایید کړي. زده کوونکیو ته ۳ تر ۴ دقیقې وخت ورکړئ چې په درې کسیزه یا دوه کسیزو ډلو کې پر خپلو نظریاتو خبرې اترې وکړي.

۵. بیا یو څو زده کوونکي را وبولئ، چې ټول ټولګي ته د هغه څه په اړه خبرې وکړي چې د هغوی لپاره تر تر ټولو ډېر مهم دی. هڅه وکړئ چې هغه شاګردان را ونه بولئ چې تېر ځل یې هم ځواب ورکړی، تر څو ټولو ته وار ورسېږي. هغوی دې ته وهڅوئ چې یو بل ته غوږ ونیسي، ترڅو وپوهېږي چې د کیسې څومره ډېرې برخې مهمې ګڼل کېدای شي.

۶. په ښې غوږ اېښودنې، د کیسې په ښې یادونې، او د تر ټولو مهم شي په اړه په فکر کولو خپل زده کوونکي وستایئ. یادونه وکړئ چې تاسې به په نیږدې ورځو کې یوځل بیا هم د همدې کیسې په اړه خبرې او بحث وکړئ او له همدې کیسې به د نورو زده کړو لپاره د اساس په توګه کار واخلئ.

۷. له زده کوونکیو غوښتنه وکړئ چې د کتاب انځورونو ته وګوري، او د لومړۍ او دوهمې ورځې ترتیب شوي لست ته د نویو څیزونو او څېرو نومونه ور اضافه کړي.

۸. په درېیمه ورځ، به تاسې وغواړئ چې وخت ته پر کتو په دې پوښتنو نور بحث هم وکړئ. دا به زده کوونکي وهڅوي چې د کیسې د معناوو باره کې نور هم فکر وکړي. د خپلو زده کوونکو عمر ته پر کتو مناسبې پوښتنې خوښې کړئ. زده کوونکي ښایي دې پوښتنو ته مختلف ځوابونه ولري، چې ټول یې باید سم وګڼل شي. د پوښتنې هدف یوازې او یوازې دا دی چې زده کوونکي په خپله ځاني طریقه د کیسې په وړاندې غبرګون ښودلو ته راوبلل شي.

- *د کیسې کومه برخه ستاسې لپاره مهمه وه؟ ولې دغه برخه درته مهمه وه؟*
- *د کیسې په پیل کې، آیا فاطمه هغه څه ته تیاره وه څه چې ورپیښ شو؟*
- *د فاطمې او هغې پلار کښتۍ غرقه او یوازې فاطمه ژوندۍ پاتې شوه. هغه یوازې او ډېره ناچاره وه، خو د اوبدونکو یوې مهربانې کورنۍ له ځان سره واخیسته. هغه له هغوی سره پاتې او هغوی ورته خپل کسب وروښود. هغه چې اوس لدې کورنۍ سره ده ځان څنګه احساسوي؟*
- *له هغې وروسته، د غلامانو تجارانو ونیوله، چې ډېره بده ده خو یوه سړي واخیسته تر څو ښه ژوند ورکړي. آیا فکر کوئ چې فاطمې د هغې زړه سواندئ ځواب ورکړ؟ ولې او څنګه؟*
- *کله چې د چین سمندر غاړې ته توپان د هغې کښتۍ تباه کړه، فاطمې وپوښتل، " داسې ولې کېږي هر څه ته چې لاس اچوم غم راځي؟ ولې داسې کارونه زما سره پېښېږي؟" او کله چې یې هیڅ ځواب ونه موند، راپاڅیږي او دننه (ځمکې په لور) روانیږي. څه فکر کوئ چې فاطمه کوم مشخصات لري چې ورسره په وړاندې تګ کې مرسته کوي؟ ولې داسې وایاست؟*
- *آیا فکر کوئ چې د فاطمې ستونزې لنډمهاله ننګونې وې چې هغې سره یې د خپلو خوبونو/اهدافو په لاسته راوړلو مرسته کوله؟ ولې او ولې نه؟*
- *د کیسې په پای کې لیکوال موږ ته وایي "فاطمه وروسته پوه شوه، چې د هغه پېښو له لارې چې په پیل کې ناوړه او بدې بریښېدې هغې داسې څه زده کړل چې په پای کې د هغې د همیشنۍ خوښۍ ته د رسیدو مهمه برخه شو." آیا فکر کوئ دا د هر چا لپاره د فاطمې په څیر ربښتیا ده، چې له هر څه سره بیا هم ټینګ ولاړ وي؟*
- *تاسې څه پوښتنې لرئ؟*

## د مهارت د انکشاف اندازه کول د دریمې ورځې لپاره: په قصه کې د کلیدي نظرونو منعکسول

درجه ۱: هغه زده کوونکي چې ان د ښوونکي په مرسته هم نه شي کولای چې د قصې کومه برخه په یاد ولري، او یا د قصې کومه اساسي برخه سره ونښلوي.

درجه ۲: هغه زده کوونکي چې قصه یې په یاد وي او قصه یو څه منعکس کړای شي، خو اساسي نظرونه سره نښلولی نه شي او یا په پوهیدای نه شي.

درجه ۳: زده کوونکی د کیسې پیښې په ښه توګه یادولی او د خپل ژوند له ورته پیښو سره یې پرتله کولای شي، خو پرته له کوم ځانګړي ارزونې یا اقتباس څخه (د بیلګې په ډول زده کوونکی یادوي چې څرنګه یې یو ځل سخت کار ته لاس اچولی وو) .

درجه ۴: د زده کوونکې قصه ښه په یاد وي او هغه په پوره تفصیل د خپل ژوند له یو څه سره شباهتي ارتباط ورکولای شي. (د بېلګې په ډول زده کوونکی وایي د فاطمې توان چې له ستونزمنو حالاتو څخه ډېر څه زده کوي دوی ته ستونزمن کار یا حالت وریادوي چې باید زده یا حل کړی یې وای او وروسته پوه شو څه چې یې زده کړي وو ګټور واقع شو.)

# د لوستنیزو او وینیزو مهارتونو لوړاوی – درېیمه ورځ

**د کورني کار ارزونه**: که فکر کوئ چې کافي وخت لرئ، نو کولای شئ هره ورځ د درس له پیله وړاندې د زده کوونکو کورني کارونو کتلو ته ځانګړې کړئ. له زده کوونکو وپوښتئ چې که یو یې د لغتونو پر کارولو کومې جملې لیکلي وي او غواړي چې له ټولګي سره یې شریکې کړي. زده کوونکي د خپل کار د شریکولو له کبله تقدیر کړئ او نور وهڅوئ چې په کور کې ولولي او ولیکي. زده کوونکو ته وواياست هر کله چې وخت ولري دا به یو ښه تمرین واوسي.

## د کیسې کلیدي مفکورو باره کې فکر کول او لیکل

لکه زموږ د ټولو رواجي کیسو په څیر، په دې کیسه کې هم څو مهمې مفکورې شته، او دا مفکورې یوازې له یو څه وخته وروسته او په ژوند کې یو څه پیښیدو وروسته لوستونکي ته یادېږي. د درېیمې او څلورمې ورځ لپاره، موږ دوه مفکورې خوښې کړي چې له خپلو زده کوونکو سره پرې بحث وکړئ، او د لیکنې تمرینونه مو پکې شامل کړي چې د دې مفکورو باره کې د هغوی فکرونو او پوهې بهترولو کې مرسته کوي.

### د مهمو مفکورو معلومول – د خپلو اهدافو لاسته راوړلو لپاره ضروري مشخصاتو رامنځ ته کول

کله چې زده کوونکي مهمې مفکورې وپیژني، هغه د دوی پوهه او لوستنې ښه مهارتونه بهتروي. دا مهارتونه به د لوستنې نورو فعالیتونه ته انتقال شي چې دوی پکې دخیل دي. لدې لوستنی سره، تاسې به له خپلو زده کوونکو سره مرسته وکړئ چې په کیسه کې مهمې مفکورې وپیژني.

دا ډول زده کړه ییزه کیسې له موږ ټولو سره مرسته کوي تر څو هغه مشخصات وپیژنو چې په موږ ټولو کې عام دي. دا د انساني طبیعت برخه ده. د فاطمې تاوونکي او خیمې کیسه موږ د هغو مشخصاتو په فکر کې اچوي چې له ستونزو سره یې موږ د خپلو اهدافو لاسته راوړلو لپاره ورته اړتیا لرو.

تر څو زده کوونکي د مشخصاتو او د هغوی پر رامنځ ته کولو مفکورې پوه شي، تاسې به وغواړئ چې پر دې وغږېږئ چې د کیسې په پیل کې فاطمې کوم مشخصات درلودل او بیا یې له هغو سره پرتله کړئ چې هغې د کیسې په پای کې یې له خپلو تجاربو زده کړل.

یاد ولرئ، چې د دې فعالیت لپاره زده کوونکي باید وکولای شي چې آزاد فکر او اظهار یې کړي چې یو نوي څه به ورته وي. د دې لپاره، هغوی باید په رواني توګه ځان خوندي احساس کړي او ورسره پوه شي چې ځوابونه یې قبلیږي هیڅ "غلط" ځواب نشته.

### درس ته تیاری

- هر زده کوونکی به د "تاوونکې فاطمه او کیږدۍ" او کمپوزیشن کتاب یا لیکلو پاڼې او پنسلو ته اړتیا ولري.

- د ټولګي بحث لپاره د چارټ پاڼه یا تخته تیاره ولرئ.
- درس ولولئ تر څو پوه شئ چې دا ګامونه تعقیب کړئ.

۱. پر مشخصاتو وغږېږئ. تاسې ممکن له یوې داسې جملې پیل کړئ:

*دا د یوې پیغلې جنۍ کیسه ده چې په سختیو کې کاریدونکي ځانګړتیاوې (مشخصات) یې په ځان کې پیدا کړل. راځئ چې د هغو ځانګړتیاوو په باره کې وغږیږو چې فاطمې د کیسې په پیل کې درلودل او هغه چې د کیسې په پای کې یې لاسته راوړل.*

*د کیسې په پیل کې یې کوم مشخصات درلودل؟*

*کوم مشخصات یې د کیسې په پای کې درلودل؟*

۲. پر توره تخته دوه کالمونه جوړ کړئ او له زده کوونکو وغواړئ چې د خپلو کمپوزیشن کتابونو پر یوه پاڼه (یا د لیکنې پر کومه ورقه) هم دوه کالمه جوړ کړي او هغه مشخصات ولیکي چې فاطمې د کیسې په پیل کې لرل او هغه چې د سفر په سختیو کې یې د کیسې پر مهال زده کړل. بیلګه:

**هغه مشخصات چې فاطمې لرل**

*هغه رومانتیک او تصوري وه. په پیل کې، هغه بې تجربې، متکي او هر څه ورته په آسانه بې له سخت کاره رسیدل.*

**هغه مشخصات چې فاطمې زده کړل**

*هغه زده کړل چې آزاده، پرېکنده، عیاریدونکې، ریښتونې، زغمونکی، باوري، ځیرکه، څارونکې او درنه شي. چې په بدل کې یې د هغې په نوي هیواد کې د هغې درناوی کیده.*

۳. پر توره تخته دوه کالمه جوړ کړئ او له زده کوونکو وغواړئ چې هغه مشخصات ولیکي چې یو څوک یې د ښوونکي کیدو لپاره ورته اړتیا لري، ورته ووایاست چې هغه مشخصات معلوم کړي چې دوی یې اوس لري او هغه چې دوی ته ورته اړتیا ولري (یا یې باید حاصل کړي):

## زما هدف دی چې ښه ښوونکی شم

| هغه مشخصات چې اوس یې لرم: | مشخصات چې زه ورته اړتیا: |
|---|---|
| تصور | ټینګار |
| بې تجربه والی | آزادي |
| لید | مینه/ خواخوږي |
| اتکا | لټونه/ لټونکی |
| زیارکښ | ډسپلن/ نظم |
| ځواک/ انرژي | باور |
| | اخلاص |
| | زغم |



**لغتونو کورنی کار**: زده کوونکو ته ووایاست چې دا تمرینونه به له دوی سره مرسته وکړي چې له کیسې څخه پر مهمو مفکورو ښه پوه شي او لیکنې مهارتونه يې بهتر کړي. [*له زده کوونکو وغواړئ چې خپل کتابونه او پنسلونه له څانه سره کور ته یوسي. وریاده کړئ چې بیرته يې بیا له څانه سره ټولګي ته راوړي.*]

الف: له زده کوونکو وغواړئ چې د هغه وخت باره کې ولیکئ چې هغوی یا یو بل پیژندونکي يې یو څه خطرناک تجربه کړي وي خو وروسته پوه شوي چې دغې تجربې یو څه ګټور وروښودل.

ب: له زده کوونکو وغواړئ چې د خپل هدف باره کې فکر وکړي او د هغې لاسته راوړلو لپاره به څه مشخصاتو ته اړتیا ولري. ورته وړاندیز وکړئ چې د خپل کمپوزیشن کتاب پر یوه پاڼه (یا لیکنې پر یوه ورقه) دوه کالمه جوړ کړي لکه چې مو په ټولګي کې وکړل. ورڅخه وغواړئ چې خپل هدف له ټولو لوړ ولیکي او هغه مشخصات ولیکي چې دوی يې اوس لري او په هدف کې ورسره مرسته کوي او وروسته هغه مشخصات ولیکي چې دوی به ورته اړتیا ولري.

**ارزونه**: **د کلیدي مفکورې معلومول (انعکاس، برابرول او د مهمو مفکورو معلومول)**

درجه ۱: زده کوونکی د کیسې مهمې مفکورې نه پيژني او خپلې نشي جوړولی.
درجه ۲: زده کوونکی د یوه یا دوو مفکورو پيژندلو توان لري خو پر ارتباط او اهمیت يې نه پوهیږي.
درجه ۳: زده کوونکې د څو مهمو مفکورو پيژندلو توان لري او ارتباط او اهمیت يې هم پيژني. (د بیلګې په ډول، زده کوونکی به ووايي چې کیسې د فاطمې مشخصات په پیل کې او هغه چې له خپل ستونزمنو تجاربو يې زده کړل وارزول – پداسې حال کې چې د کیسې په پیل کې رومانتیک او پر پلار متکي وه، او په ټوله کیسه کې پر نورو چې دې ته يې پناه ورکړې وه متکي وه، هغه د خپلو تجربو له لارې آزاده شوه. دا زده کوونکي ته مهمه ده څکه پوه شو/ شوه هغه تغیرات او وده چې فاطمې تجربه کړه هغه د هغې د ارمانونو پيژندلو او لاسته راوړلو لپاره مهم وو.)
درجه ۴: زده کوونکی له ژور فکر سره مهمې مفکورې او له خپل ژوند سره د هغې ارتباط او اهمیت يې پيژني. (د بیلګې په ډول، زده کوونکی وايي چې کیسه د هغې خپل توقعات او تجارب منعکسوي. دا زده کوونکي ته مهمه ده څکه یوازې دا نه چې هغه پوهیږي چې بدلون او وده له بیلابیلو تجاربو راځي، بلکې د پلانولو، هڅې، ښوونې او د یوه هدف لاسته راوړلو لپاره تیاري پر رول هم پوهیږي.)

# څلورمه ورځ: آزاده مطالعه

**د کورني کار ارزونه**: که فکر کوئ چې وخت لرئ، له زده کوونکو وغواړئ که کوم يو غواړي چې په خپل کمپوزيشن کتاب کې يې څه ليکلي وي هغه ولولئ: (الف) هغه وخت کله چې دوی يا پيژندونکي يې داسې څه تجربه کړل چې ډېر خطرناک ښکاريدل خو وروسته يې يو څه ګټور وروښودل، او/ يا (ب) د هغوی اهدافو او مشخصاتو په اړه چې دوی يې لري او لاسته راوړلو لپاره ورته اړتيا لري. زده کوونکي د شريکولو له کبله تقدير کړئ او نور وهڅوئ چې په کور کې کار وکړي. يو ځل، بيا زده کوونکو ته وواياست چې بهتره به وي چې هر کله وخت ولري په کور کې تمرين وکړي. ورياده کړئ، چې تمرين به يې ښه ليکوالان کړي.



**درس ته تياری**

- د الف ۱ ګام ته تياري لپاره، وبه غواړئ چې زده کوونکي د درس له پيل وړاندې د دريو په جوړو يا ډلو وويشئ تر څو هغوی پوه شي چې له چا سره وغږيږي وروسته لدې چې تاسې لارښوونې ورته وکړئ.
- زده کوونکو يا د زده کوونکو ډلو ته کتابونه وويشئ.
- غږ ماشين تيار کړئ، که لرئ يې، د کيسې سي ډي يا کيسه ورواچوئ.
- د ب ۴ ګام کې، د هر زده کوونکي لپاره پاڼه او پنسلونه يا د زده کوونکو کمپوزيشن کتابونه ولرئ.
- درس ولولئ تر څو پوه شئ چې ګامونه تعقيب کړئ.

زده کوونکي راواغواړئ چې خپله کيسه يو ځل بيا ولولي، دا ځل په آزاده توګه له خپلو کتابونو څخه. هغوی چې پخپله آزاد لوستلو کې ستونزه لري له يو چا سره يې يو کړئ چې په لوستلو کې ښه وي، که د غږ ماشين لرئ نو ورته وړانديز وکړئ چې د کيسې غږيزه ډول تعقيب کړي. د بحث پر مهال زده کوونکو ته وواياست، چې تاسې نه غواړئ هغوی امتحان کړئ نه ټول ځوابونه لرئ، بلکې يوازې غواړئ چې لدوی سره يوځای د لوړې مفکورې او غټ موضوعات راوسپړئ او دوی په څېر پرې غږيدو ته ليواله ياست.

## الف: په لوړ غږ د کيسې لوستنه

که مو زده کوونکي لوستل کولای شي، او کيسه يې خوځله اورېدلې وي، له هغوی غوښتنه وکړئ چې له ځان سره د کيسې د لوستلو تمرين وکړي. دا به غوره وي چې هغوی په لومړي سر کې دوه دوه کار وکړي او کيسه له لاندې طريقو په يوه طريقه ولولي:

۱. زده کوونکي کيسه په وار ولولي. يو زده کوونکی يوه پاڼه لولي؛ او بل بله پاڼه، او همداسې دوام ورکوي ترڅو کيسه پای ته ورسېږي.

۲. زده کوونکي کيسه په ګډه او په يوه غږ ولولي.

۳. هر زده کوونکی کیسه په وار، له سره تر پایه لولي.

په بیا بیا تمرین سره به، ګڼ زده کوونکي د کیسې اسانه او روانه لوستنه زده کړي، او ځینې به یې ښایي ټول ټولګي ته د کیسې له فردي او یوځایي لوستلو خوند واخلي.

| **د مهارت د انکشاف اندازه کول: په لوړ غږ د قصې لوستل** |
| --- |
| درجه ۱: زده کوونکی نه شي کولای چې ان د ښوونکي په مرسته قصه ولولي او یا د قصې کوم لغت یې په یاد وي. |
| درجه ۲: زده کوونکی کولای شي چې قصه ولولي خو روانه یې نه شي لوستلای. داسې معلومېږي زده کوونکی چې څه لولي په هغو ښه نه پوهېږي. معلومېږي چې هغه یې میخانیکی زده کړي وي. |
| درجه ۳: زده کوونکی قصه په احساساتو سره بیانولای شي، او معلومېږي هغه لغتونه چې لولي په پوهېږي. |
| درجه ۴: زده کوونکی په خورا ښه ډول قصه بیانولای شي، د قصې لوستلو کې رواني یې بې ساري ده، او داسې ښکاري چې قصه راژوندۍ شوې وي. |

## ب: د مهمو مفکورو معلومول – هغو مهارتونو رامنځ ته کول چې موږ یې خپلو اهدافو لاستو راوړلو لپاره ورته اړتیا لرو

خپلو زده کوونکو ته وواياست چې په کیسه کې بله مهمه مفکوره <u>هغه مهارتونه دي چې موږ ورته خپلو اهدافو لپاره</u> اړتیا لرو او دا د نن ورځې د بحث موضوع ده.

۱. له زده کوونکو سره پر هغو ګامونو وغږېږئ چې فاطمې د مېړه موندلو لپاره باید اخیستي وای. پر هغو شخصي شیانو وغږېږئ چې هغه پرې پوه شوه او د دې موخو په لاسته راوړلو کې یې مرسته نه کوله. زده کوونکو ته وواياست:

*کله چې فاطمې اوبدل یا پایې یا د خیمې ستنې جوړول زده کول، نو هیڅ دا فکر یې نه کاوه چې وروسته به یې په ژوند کې وکاروي او دا به د دې باعث شي چې له شهزاده سره واده وکړي. کله چې باچا له هغې وغوښتل چې خیمه جوړه کړي، هغې فکر وکړ چې کولای یې شي ځکه هغې کولای شو چې هر څه سره برابر یا یوځای کړي او خپلې تجربې او پوهه سره فکر او هغه څه جوړ کړي چې دې ته خیمه ښکارېده.*

وغږېږئ چې څه فاطمې سره د هغې نهایي هدف په لاسته راوړلو کې مرسته وکړه:

**الف:** په پیل کې هغې د مېړه باره کې فکر وکړ خو کله چې یې کښتۍ ماته شوه، هغه باید له خپل نوي حالت سره ځان عیار او اوبدل زده کړي.

**ب:** کله چې له اوبدونکو سره د هغې ژوند پای ته ورسید، هغې د خپل نوي د غلام په حیث حالت څخه ترخه ګیله وکړه، خو له نیکه مرغه یوه سړي واخیسته چې زړه یې پرې وسوځاوه او د کور خادمې په توګه یې دنده ورکړه.

**ج:** وروسته، کله چې پایو جوړونکی له ستونزو سره مخ شو، فاطمې او د هغې ښځې باید ورسره مرسته کړې وای. فاطمې یو ځل بیا ځان له نوي حالت سره عیار او د پایو جوړول یې زده کړل.

**د:** کله چې د چین باچا له فاطمې د خیمې جوړول وغوښتل، هغې فکر وکړ چې کولای یې شي خو نه وه خبره څه ته چې اړتیا لري له هغوی سره به نه وي. هغوی نه لرل، نو باید هر څه یې پخپله کړي وای.

**ه**: ورپسې یې درک کړه چې کولای شي خپل هر زده کړې مهارت وکاروي تر څو د خیمې جوړولو لپاره اړین توکي جوړ کړي. په خپل سفرونو کې لیدلیو تولو خیمو پر یادولو هغې دا توکي یوځای او کېږدۍ یې جوړه کړه.

**ی**: یو ځل یې چې کېږدۍ جوړه کړه، باچا به هر هغه څه چې وغواړي ورکړي. فاطمه شهزاده د میړه په توګه قبلوي او هملته پاتې کیږي. او ورپسې وتوانیده چې پوه شي هغه تجربې چې دا ترې تیره شوې وه ډېرې بدې وې او توان یې ورکړ چې خپل ارمان/تصور پوره کړي.

۲. زده کوونکو ته وواياست فکر وکړي چې څرنګه د فاطمې کیسې موږ ته توان راکړ پر هغو مهارتونو فکر وکړو چې خپلو اهدافو لاسته راوړلو لپاره ورته اړتیا لرو. نه د فاطمې په څیر، چې هیڅ فکر یې نه کاوه چې خیمه به جوړوي، زموږ لپاره ممکنه ده چې پوه شو د خپلو اهدافو او خوبونو/تصوراتو لاسته راوړلو لپاره څه ډول مهارتونو ته اړتیا لرو. ټولګي ته وواياست چې هدف خوښ کړي، تصوري یا ریښتونی، چې د ځان لپاره یې غواړي لکه دنده، مهارت یا شوق یا استعداد چې دوی به وغواړي رامنځ ته یې کړي. ورځخه وغواړئ چې د هغه ګامونو باره کې فکر وکړي چې په کتاب کې پیښ شوي دي (۱الف – ۱ی مخکې یاد شوي).

تاسې به ممکن وغواړئ چې ځینې نمونوي ډیالاګ له مخکې جوړ او ولیکئ تر څو یې له زده کوونکو سره شریک کړئ تر څو پر مفکوره پوه شي چې څرنګه د هغه مهارتونو باره کې فکر وکړي چې هغوی د اهدافو لاسته راوړلو لپاره ورته اړتیا لري. یوه بیلګه به یې:

### ډاکټر کیدل

**الف برخوال**: *ستا دنده یې هدف څه دی؟*

**ب برخوال**: *زه غواړم ډاکټر شم، ځکه ښوونځي ته ډېره پاملرنه کوم تر څو پوهنتون ته بریالی شم.*

**الف برخوال**: *دا هدف به څرنګه لاسته راوړې؟*

**ب برخوال**: *پوهیږم چې باید ډېر مضامین ولولم، لکه فزیولوژي، اناتومي، کیمیا او بیالوژي تر څو خپل هدف ته ورسیږم. زه باید ریاضیات ولولم. پداسې حال کې چې ریاضي مې نه خوښیږي، خو زه باید پر ریاضي پوه شم تر څو کانکور کې بریالی او طب ته ولاړ شم. او ممکن ډېر څه وي چې زه پرې نه پوهیږم خو باید پرې پوه شم نو ځکه به د ډاکټرانو باره کې ډېر کتابونه ولولم او که وتوانیدم نو ورسره به وغږیږم، تر څو پوه شم چې پر کومو مضامینو یا فعالیتونو پوه شم چې خپل هدف ته ورسیږم.*

**الف برخوال**: *ته باوري یې چې همدا هدف غواړې یا ممکن حالات یا ستا هدف بدل شي او ته باید پر نورو مهارتونو هم متمرکز شې؟*

**ب برخوال**: *زموږ په کیسه کې فاطمه نه پوهیده چې څه چې زده کوي هغه به هغې ته وروسته په ژوند کې ګټور واقع شي. زه به هڅه وکړم چې که خوښیږي مې یا نه د نوي مهارت په زده کړه یا حالت کې ښه وکړم ځکه چې راتلونکی نامعلومه دی او زه هیڅکله نه پوهیږم چې په راتلونکي کې به مې څه پکار شي.*

۳. له زده کوونکو وغواړئ هدف خوښ کړي، تصوري یا ریښتونی چې د ځان لپاره یې غواړي لکه دنده، مهارت یا شوق یا استعداد چې غواړي ځان لپاره یې رامنځ ته کړي. ورځخه وغواړئ د کتاب ګامونه راپه یاد کړي (ب. ۱الف – ۱ی مخکې ذکر شوي).

۴. له زده کوونکو وغواړئ هغه مهارتونه چې دوی يې لري يا ورته اړتيا لري د ډايلاګ يا نوټ په توګه په څو جملو کې وليکئ.

۵. زده کوونکي به وغواړي چې خپلې ليکنې وښيي چې متن او عکسونه دواړه ولري يا کولای شي له ډايلاګ سره د رساميو کتابګوتې جوړ کړي.

۶. که زده کوونکي د خپلو ډايلاګونو اجرا کول خوښ کړي، نو که وخت ولرئ پرې يې ږدئ چې اجرا يې کړي.



**لغتونو کورنی کار**: زده کوونکو ته ووایاست چې دا تمرينونه به له دوی سره مرسته وکړي چې له کيسې څخه پر مهمو مفکورو ښه پوه شي او ليکنې مهارتونه يې بهتر کړي. [*له زده کوونکو وغواړئ چې خپل کتابونه او پنسلونه له ځانه سره کور ته يوسي. ورياده کړئ چې بيرته يې بيا له ځانه سره ټولګي ته راوړي.*]

**الف**: له زده کوونکو وپوښتئ چې هغو مهارتونو باره کې فکر وکړي چې دوی يې اوس لري او هغه چې د خپلو اهدافو لاسته راوړلو لپاره به ورته اړتيا ولري. ورته وړانديز وکړئ چې د خپل کمپوزيشن کتاب پر پاڼه (يا د ليکنې پر ورقه) دوه کالمه جوړ کړي لکه چې مو په ټولګي کې وکړل. په لوړه کې هدف وليکئ او يو لوری ته هغه مهارتونه ليسټ کړئ چې اوس يې لري او په بل کالم کې هغه مهارتونه ليسټ کړئ چې تاسې ورته اړتيا لرئ.

**ب**: دوی کولای شي داسې ډايلاګ وليکي چې يو له اهدافو، هغه مهارتونه چې دوی يې اوس لري او کوم مهارتونه چې دوی يې د خپل هدف لاسته راوړلو لپاره ورته اړتيا لري، وښيي.

**ج**: له زده کوونکو وغواړئ چې د خپلې کورنۍ يو مشر غړي سره چې مهارت ولري وغږيږي او معلومه کړي چې مهارت يې څرنګه زده کړ. د دې غږيدا يو څه جملې په خپلو کتابچو کې وليکي، تر څو موږ د دوی له مشر خپلوانو يو څه زده کړو.

**ارزونه: د مهمو مفکورو معلومول او ورباندې ليکل** (ډايلاګ ليکل ، پرې فکر کول او برابرول)

درجه ۱: هغه زده کوونکی چې په کيسه کې د اصلي مفکورو په پيژندلو کې ستونزه ولري نو هغوی مباحثه هم نشي ترکيبولی.

درجه ۲: زده کوونکی يوه يا دوه مهمې مفکورې پيژندلی شي خو نشي کولای چې په خپله ليکنه کې يې ارتباط او اهميت معلوم کړي.

درجه ۳: زده کوونکی څو مهمې مفکورې پيژني او ارتباط او اهميت هم معلومولی شي او ورسره ډايلاګ هم برابرولی شي. (د بيلګې په ډول، زده کوونکی وايي چې کيسه دوی ته يو مهمه دنده وريادوي چې په لومړي سر کې ورته سخته ښکارېده، خو اوس آسانه بريښي. دوی ممکن ووايي چې دوی اوس ډېر مهارتونه زده کوي چې يوه ورځ به يې پکار شي.)

درجه ۴: زده کوونکی له ژورې پوهې سره مهمې مفکورې معلومولی او د خپل ژوند له پيښو سره يې پرتله په ليکنه کې ښودلی شي. (د بيلګې په ډول، زده کوونکی وايي چې کيسه لدوی سره مرسته کوي هغه مشخصات او مهارتونه وارزوي چې د دوی د ژوند بيلابيلو مهمو اهدافو لاسته راوړلو لپاره مهم دي. دا هغه/ هغې ته مهمه ده ځکه دا د دې فکر پيل باعث ګرځي چې څرنګه کولای شي دا ښه مشخصات او مهارتونو د خپل ژوند په بيلابيلو پړاوونو کې عملي کړي.)

# پنځمه او شپږمه ورځ

د پنځمې او شپږمې، ورځې لپاره له لاندې دوو برخو "د ټولګي يا کور نور فعاليتونه" څخه د کيسې اړوندې کړنې انتخاب کړئ. هغه کړنې غوره کړئ چې ستاسې په نظر ستاسې د زده کوونکيو لپاره ډېرې مناسبې برېښي.
که ستاسې زده کوونکي مختلف مهارتونه او خوښې لري، نو کولای شئ پر ځينو زده کوونکيو يو ډول او پر ځينو نورو بل ډول کړنې ترسره کړئ. که په ټولګي کې د ټولو فعاليتونو اجرا لپاره مناسب وخت نه وي، تاسې زده کوونکو ته وړانديز کولای شي که وخت ولري نو په کور کې يې کولای شي.

## د ټولګي يا کور نور فعاليتونه

کله چې مو لومړي څلور درسونه ختم کړل، رسونې وروسته له صنف سره ځينې داسې کړنې عملي کړئ چې له زده کوونکيو سره د "تاوونکې فاطمه او کيږدۍ" د کيسې په ژوره پوهه کې مرسته وکړئ او د هغوی د ليک لوست مهارتونه غښتلي کړي. د دې برخې کړنې د همدې غرض لپاره کارولای شئ. ځينې دغه کړنې د ټولو عمرونو د ماشومانو لپاره مناسبې دي. ځينې نورې يې د داسې ماشومانو لپاره دي چې له وړاندې په اسانۍ سره ليک لوست کولای شي. کله مو هم چې فکر وکړ، د ماشومانو لپاره د دې کړنو تکرار په زړه پورې دی، کولای شئ تر يوه زيات ځله يې تکرار کړئ.

| |
|---|
| **د کورني کار ارزونه:** د ټولګي په پيل کې وخت ولرئ نو له زده کوونکو وپوښتئ چې که چيرې غواړي چې له ټولګي سره خپل د ليکنې کار شريک کړي. زده کوونکي د خپل کار شريکولو له لامله ونازوئ او نور وهڅوئ چې هغوی يې هم وليکي. زده کوونکو ته وواياست چې هر کله وخت ولري نو دا يو ښه تمرين دی. ورياده کړئ چې تمرين به دوی ښه ليکوالان کړي. |

## الف: کښنه(رسم) او نکل کول

زده کوونکي کولای شي، د "تاوونکې فاطمه او کيږدۍ" په اړه خپله پوهه د کيسې د صحنو په رسمولو، او تاسې او يو بل ته د کيسې په بيانولو سره غښتلې کړي. هر زده کوونکی به مختلف هنري قابليتونه ولري، دا فعاليت به هر زده کوونکي د هغوی د هنري قابليتونو په نظر کې نيولو پرته، د قصې په بياويلو کې په ټوکيز او انفرادي شکل کې ورګډ کړي. د دې کړنې اندازه کولو ته ضرورت نشته. د داسې کولو لپاره ځينې ګټور ګامونه لاندې بيان شوي.

- هر زده کوونکي لپاره پاڼه او پنسل يا رنګه پنسلونه ولرئ. زده کوونکي به غواړي چې پخپله جوړ کړی کتاب د رساميو لپاره وکاروي.

۱. زده کوونکي په دوه کسيزه ډلو ووېشئ. (که د ټولګي د شاګردانو شمېر طاق وي، نو يوه درې کسيزه ډله پکې جوړه کړئ.)


۲. کتاب داسې پورته ونيسئ چې زده کوونکي يې پوښ وليدلای شي او وواياست:

*د تاوونکې فاطمه او کيږدۍ کيسې په باره کې فکر وکړئ. له قصې څخه يوه صحنه د رسمولو لپاره غوره کړئ. کومه صحنه به تاسې رسم کړئ؟ په هغې صحنه کې فکر وکړئ، او داسې يې ځانته مجسمه کړئ چې پوه شئ څه شی مو بايد په انځور کې شامل وي. يقيني کړئ چې انځور مو تفصيلي دی، او ډېر څه بيانوي.*

۳. له زده کوونکيو غوښتنه وکړئ چې خپلو سيالو (نورو زده کوونکيو) ته د هغې صحنې په اړه چې رسمول يې غواړي، او هغه څيزونه چې په انځور کې يې شاملول غواړي، معلومات ورکړي. د رسمونو په اړه خبرې اترې به هغوی تشويق کړي چې د خپلو رسمونو سمه پلانجوړونه وکړي، او د هغه څه په اړه ښه فکر وکړي، چې په انځور کې يې شاملول غواړي.

۴. زده کوونکيو ته پاڼې او د رسم وسايل، لکه پنسل، يا رنګې ور ووېشئ، او زده کوونکيو ته ووايأست چې رسمول پيل کړي. ممکن زده کوونکي به وغواړي چې خپل جوړ شوو کتابونو کې رسامي وکړي. تاسې کولای شئ د هغوی په منځ کې وګرځئ راوګرځئ او له هغو څخه د هغوی د رسمونو او د هغو د انتخاب د لاملونو په اړه پوښتنې وکړئ. تاسې بايد هلکان دې ته وهڅوئ چې يو بل ته د کيسې او خپلو رسمونو په اړه وغږېږي.

۵. کله چې زده کوونکي خپل رسمونه خلاص کړي، لاندې يوه يا زياتې کړنې ترسره کړئ:



- ټولې رسامۍ د ټولګي په ديوال ځليبښ کړئ. که زده کوونکو خپل کتاب کارولی وي نو هر زده کوونکی د ټولګي مخې ته وليږئ او ورته ووايأست چې خپلې رسامۍ وښايي. درې يا څلور زده کوونکي د ديوال رساميو ته په وار واستوئ (يا ورڅخه وغواړئ چې خپلې رسامۍ وښيي)، هر انځور ته په اشاره ټولګي ته ووايي چې رسامۍ يې د څه معنا لري. هره ورځ تر څو ورځو لپاره همداسې پر درې يا څلورو زده کوونکو دا کرار تکرار کړئ تر څو چې ټولو خپل رسمونه ښودلي وي.

- ټول رسمونه راټول کړئ. يوڅو يې انتخاب کړئ، چې د کيسې مهمې صحنې بيانوي؛ يو يا دوه د کيسې له پيل څخه، يو يا دوه، د کيسې له مينځه، او يو يا دوه د کيسې له پايه. دغه ټاکلي رسمونه په بي ترتيبه توګه پر دېوال سرېښ کړئ، او له زده کوونکيو غوښتنه وکړئ چې صحيح ترتيب يې معلوم کړي. د زده کوونکيو په خوښه او فرمايش رسمونو ته حرکت ورکړئ، ترهغو چې ټول راضي او قانع شي چې انځورونه په سم ترتيب اېښودل شوي دي. په راتلونکيو څو ورځو کې د رسمونو له اصلي مجموعې څخه د رسمونو يوه بله مجموعه انتخاب کړئ، او بياهم له زده کوونکيو غوښتنه وکړئ چې سم ترتيب يې معلوم او تعيين کړي. (که زده کوونکي پخپله جوړ کړي کتابونه کارولي وي، څلور يا پنځه زده کوونکي د ټولګي وړاندې ته د خپلو رساميو ښودلو لپاره راوغواړئ. د ټولګي له زده کوونکو وپوښتئ چې زده کوونکي بايد چيرې ودرېږي تر څو په مناسب ترتيب برابر شي.)

- ټول رسمونه رايوځای کړئ. د کيسې د ترتيب مطابق يې ترتيب کړئ او سره ويې تړئ، چې صنفي کتاب ورڅخه جوړ شي. که انځورونه زيات وي نو کولای شئ تر يوه زيات بنډلونه يا کتابونه جوړ کړئ. کتاب په ټولګي کې وساتئ او له زده کوونکيو غوښتنه وکړئ چې د همدې کتاب په مرسته، په رسمونو کې د بيان شويو صحنو په اړه د خبرو له لارې په وړو ګروپونو کې او يا د ټول صنف په وړاندې کيسه له سره تکرار کړي.

## ب: د کیسې په اړه لیکل

که چېرته ستاسې زده کوونکي سم لیکل کولای شي، نو هغوی کولای شي د کیسې په اړه خپله پوهه د کیسې په اړه د لیکنو له لارې نوره هم پراخه کړي. لاندې ځینې لیکنیزې کړنې دي چې ستاسې زده کوونکي يې باید ترسره کړای شي. که فکر کوئ چې زده کوونکیو ته مو په زړه پورې ده، نو تر یوې زیاتې لیکنیزې کړنې وکاروئ. که تاسې د دې فعالیتونو لپاره په ټولګي کې وخت نه لرئ، نو زده کوونکي وهڅوئ چې د وخت په صورت کې دا تمرینونه په کور کې اجرا کړي. ورته وواياست چې تمرین به لدوی ښه لیکوالان جوړ کړي.

- د هر زده کوونکي لپاره پاڼه یا کمپوزیشن کتاب او پنسل ولرئ.

۱. د کیسې لنډیز ولیکئ، خو یوازې د مهمو پېښو یادونه وکړئ. (له شاګردانو غوښتنه وکړئ چې دغه لنډیز د ټاکلي شمېر لفظونو په کارولو سره ولیکي، د مثال په توګه، چې تر پنځوسو کلمو زیات نه وي، یا تر ۲۵ کلمو زیات نه وي. د کلمو د شمېر محدودول دغه کړنه نوره هم ګرانوي.)

۲. زده کوونکو ته وواياست، *"په کیسه کې د خپلې خوښې ځېره وټاکئ. په لیکنه کې دغه ځېره تشریح کړئ او دا هم بیان کړئ چې دا ځېره ولې ستاسې خوښه ده".*

۳. زده کوونکو ته وواياست، *"آیا دا کیسه تاسې ته ستاسې د ژوند کومه پېښه یا څوک دریادوي؟ ولیکئ چې څرنګه کیسه او ستاسې ژوند سره یوشان دي".*

۴. داسې فکر وکړئ چې دا کیسه تکمله او منطقي تسلسل لري یعنې، یوه بله کیسه چې د دې کیسې په پای کې پیلېږي. دا چې په دې بله کیسه کې به څه پېښېږي، او پای به څه وي، په دې اړه لیکنه وکړئ. داسې وواياست چې:

*د کیسې په پای کې، فاطمه په چین کې پاتې کېدل خوښوي او کورنۍ پالي. د هغې ژوند تشریح کړئ او موږ ته وواياست چې څه فکر کوئ په راتلونکي کې يې څه وکړل؟*

۵. له هغوی وغواړئ چې له کیسې یو لوبغاړی خوښ او په باره کې يې داسې صحنه ولیکي لکه چې دوی پخپله همدا لوبغاړی وي. دوی باید هڅه وکړي د صحنې پېښېدو پر مهال خپل فکر بیان کړي.

د بېلګې په ډول، تاسې ممکن وواياست:

*دا پراګراف به زه درته د بېلګې په ډول بیان کړم، ما د ډنډورچي له نقطې نظره لیکلی کله چې هغه د سمندر غاړې ښارګوټي ته ځي په څه وخت کې چې فاطمه چین ته رارسیږي.* (ورپسې، لاندینې زده کوونکو ته لوړ ولولئ.)

**دا دی بیا راغلم، دا پنځم ځل دی چې دومره لیرې راغلې یم او تر اوسه مې دوه بهرنۍ ښځې هم باچا ته لیږلي دي. خو هغوی بیکاره وی! معلومه شوه چې هغوی کې یوه هم پدې نه پوهیده چې اعلیحضرت باچا صیب څه وایي، خیمه جوړول یا هر څه چې دي خو په ځای پریږده.**

اوسمهال له یو نیم سل څخه زیات ډنډورچیان دي، چې ښارګوټي او کلي چنوي، خلکو ته وریادوي چې هره بهرنۍ میرمنه خبره کړي تر څو دربار ته ولاړه شي او د هرې یوې پلازمینې ته د اعلیحضرت باچا صیب سره لیدو لپاره تګ برابروي.

یقیناً، زموږ دنده تل پیچلې ده ځکه د ښه ژباړونکي موندل ستونزمن دي، چې له کبله یې زموږ، د خلکو او دوی بهرنیو میرمنو تر منځ غږیدا نږدې ناشونی ده.

ځینې وختونه موږ پر اشارو اتکا کوو او هغوی پوهوو چې هر څه پریږدي او له ساتونکو سره پلازمینې ته ولاړ شي. خوشبختانه، باچا خپل ژباړونکي لري چې په ټولو ژبو پوهیږي، نو کله چې دربار ته ورسیږي لږ تر لږه زموږ پر هدف پوهیږي، چې یو سکون دی سره لدې چې له موږ سره مرسته نشي کولای.

زما پلار ډنډورچي وو، لکه چې د هغې پلار او له هغې وړاندې پلار یې وو. موږ هر یو له لوړو هیلو سره پیل وکړ، د هغه ځانګړي انعام په تمه چې باچا یې د دې ښځې په موندلو ژمنه کړې وه. خو هر کال یو ډول وي، او له سلګونو کلونو راهیسې همداسې ده.

هیڅ یو لدې بهرنیانو نه پوهیږي چې باچا څه وایي دا په نامه "خیمې" جوړول خو په ځای پریږده. ځینې فکر کوي چې کولای یې شي خو تاسې باید هغه احمقانه شیان وګورئ چې دوی یې جوړوي! څومره چې زه پوهیږم، سره لدې چې څوک یې د ویلو جرات نه لري، هیڅوک له پاچا پرته نه پوهیږي چې دا شي څه له پکار دی یا څرنګه ښکاري. خو، پوهیږئ، لکه چې وایي "زموږ کار د ولې پوښتنه نه ده بلکه زموږ کار وکړه او مړ شه" ده.

یوه شېبه، دا د خلکو ګڼه ګوڼه څنګه ده، دا په منځ کې څوک دي؟ د بهرنۍ ځواني ښځې په څیر ښکاري. یو ډول ښه احساس یې په باره کې لرم: آرامه او مؤدبه ښکاري خو له ډیرو ستونزو تیره شوې ده. ورسره د هوښیارتیا نښې هم لري. ممکن دا ځل... راځه چې ورسره وغږیږم.

| د مهارت د انکشاف اندازه کول: د قصې په اړه لیکل |
|---|
| درجه ۱: زده کوونکی نه شي کولای چې دا څرګند کړي چې د قصې د پیښو، احساساتو او افکارو په اړه د څه لیکلو قابلیت لري. |
| درجه ۲: زده کوونکی کولای شي چې دا څرګند کړي چې د قصې د کرکترونو د پیښو، احساساتو او افکارو په اړه د یو څه لیکلو قابلیت لري. د لیکل شوو حالاتو د ممکنه لاس ته راوړنو وړاندوینې لپاره د ښوونکي مرستې ته اړتیا وي. |
| درجه ۳: زده کوونکی د قصې د کرکترونو د پیښو، احساساتو او افکارو په اړه لیکلی شي او د لیکل شوو حالاتو د ممکنه لاس ته راوړنو ضروري جزئیات تشریح کولای شي. |
| درجه ۴: هغه زده کوونکي چې هغه لغاتونه پیژني، کوم چې ورته درس ورکړل شوی دی، هغوی په کوم عبارت کې استعمالولای شي، او پوهیږي او د څو لغاتونو د بیلګو په اړه فکر کوي. |

## ت: د فاطمې د سفر نقشه

د دې نقشې فعالیت به له زده کوونکو سره مرسته وکړي چې په کیسه کې د فاطمې سفر مجسم او د هغوی د لوستنې فعالیت بهتره کړي.

**درس ته تياری**

- که د ټولګي نږۍ لويه نقشه لرئ چې ټول زده کوونکي يې ليدلای شي، تاسې ممکن هغه د دې فعاليت لپاره وکاروئ. يا تاسې د فاطمې سفر نقشه تياره له ځان سره لرئ چې د دې لارښود په شا چاپ شوې ده. يا پر لويه پاڼه لويه نقشه رسم کړئ. تاسې ممکن پر نقشه د ځايونو نومونو په يوه کاغذ پټ کړئ، او څرنګه چې زده کوونکي له کيسې څخه د ځايونو نومونه يادوي نو راڅرګند يې کړئ.

يادونه: که تاسې د کتاب په شا پخوانۍ نقشه کاروئ، زده کوونکو ته ووایاست چې دا د نن له نقشو ډېره بدله ده. هغه ځای ته اشاره وکړئ چیرې چې به سویز کانال جوړیږي، او ووایاست:

*د فاطمې په وخت کې، سويز کانال نه وو چې مديترانه د سرې بحيرې شمالي برخې د سويز له خليج سره ونښلوي. دا کانال په رسمي توګه د ۱۸۶۹ نومبر (۱۲۴۸ لرم) کې پرانيستل شو. نو، فاطمې به دا سفر د ځمکې له لارې کړی وي.*

- د هر زده کوونکي لپاره پاڼه او پنسلونه يا د زده کوونکو کمپوزيشن کتابونه ولرئ.

د خپلې نقشې يا د دې لارښود د شا نقشې پر کارولو زده کوونکو ته د فاطمې سفر وښاياست چې په نقشه کې په نښه شوی دی. (که د دې لارښود د شا نقشه کاروئ نو د چمتوالي وړانديزونو ته چې پورته ترې يادونه وشوه مراجعه وکړئ.) د هغې سفر له پيله شروع کړئ (کله چې له خپل پلار سره وه) او له زده کوونکو لاندينۍ پوښتنو پر پوښتلو له هغوی سره د بيلابيلو ځايونو په پيژندلو کې مرسته وکړئ:

*ستاسې ياديږي چې کيسه وايي فاطمه او د هغې پلار له"لويديځ ته پروت يوه ليرې ښار" څخه راغلل؟*

نقشې ته اشاره وکړئ او ووایاست: پر دې *نقشه، دا "شمال"* دی (شمال ته اشاره وکړئ) *آيا* پوهيږئ چې کوم لورې ته *"سويل" دی؟* (بيا د "ختيځ" او "لويديځ" پوښتنه وکړئ.)

*څه فکر کوئ ليرې پروت لويديځ چيرې وو؟ د فاطمې او هغې پلار عکس ته پر کتو ووایاست چې کوم ځای به وي.*

له زده کوونکو وغواړئ چې د خپل کتاب لومړۍ دوه پاڼې پرانيزي، رسامۍ ته وګورئ، وروسې داسې نښې نښانې ولټوئ چې فاطمه او هغې پلار چيرې اوسيدل. زده کوونکو ته وار ورکړئ چې هر يو خپل نظر وړاندې کړي. وروسې ووایاست:

*د هغې پلار وويل: "زه د منځني سمندر په ټاپوګانو کې کار لرم." نقشې ته وګورئ او ووایاست چې دا به چيرې وي. تاسې داسې بحيره لټوئ چې په "منځ کې دی". لکه شاوخوا ترې ځمکه ده. نن سبا د مديترانې بحيرې پر نامه ياديږي، چې همدا معنا لري.*

*او د هغې په لرې پرتې لويديځه څنډه د "مراکش" په نامه هيواد پروت دی چې "کاسابلانکا" يې پلازمينه ده. مراکش هغه ممکنه ځای دی چې فاطمې او د هغې پلار ترې خپل سفر پيل کړ.*

*کيسه وايي چې هغوی کريت ته روان وو. څه فکر کوئ پر نقشه چيری دی؟*

*له توپانه وروسته فاطمه پر څمکه راپریوته؟* [که زده کوونکي مرستې ته اړتیا لري، زده کوونکي د کتاب هغو پاڼو ته رهنمایي کړئ چیرې چې فاطمه د الکسندریه خوا ته وبهیږي او له کتابه هماغه ځای ولولئ پداسې حال کې چې زده کوونکي مو په خپل کتابونو کې تعقیبوي. کله چې زده کوونکي خپل ځوابونه درکړي، نقشې ته اشاره وکړئ]


*الکساندریه په مصر کې ده چې د شمالي افریقا یو هیواد دی.*

*کله چې فاطمې د ډنډې/پایو جوړوونکي لپاره کار کاوه، هغوی جاوا په لور سفر پیل کړ. نقشې ته پر اشاره وښایاست چې جاوا چیرې ده؟ څه فکر کوئ چې په څومره وخت کې به کښتۍ جاوا ته رسیدلې وي.*

همدې بحث ته ادامه ورکړئ تر څو تاسې د فاطمې سفر نهایي منزل چین ته راورسیږئ.

له هر زده کوونکي وار په وار وغواړئ چې نخچې ته اشاره وکړي او د فاطمې سفر تعقیب کړي پداسې حال کې چې وایي چې په کیسه کې څه وشول.

زده کوونکو ته دا نقشه په ټولګي کې برابره کړئ کله چې تاسې لدې کتاب سره کار کوئ.



**د کورني کار ارزونه**: د دې فعالیت لپاره دوی به خپلو کمپوزیشن کتابونو، پنسل او پنسل پاک ته اړتیا ولري. (وریاده کړئ چې کتابونه بیرته له ځانه سره راوړي که کور ته یې وړي وي.)

زده کوونکي ممکن وغواړي چې د فاطمې سفر خپله نقشه په خپل کمپوزیشن کتابونو کې رسمه کړي.

زده کوونکي به وغواړي چې خپلې کورنۍ ته د فاطمې د سفر نقشه وښایي کله چې ورته کیسه لولي.

## د: په ځانګړې ادا د کیسې لوستنه

په ځانګړې ادا د کیسې د لوستنې معنا، کتاب ته له کتنې پرته په خپلو الفاظو د کیسې ژبنۍ لوستنه ده په بله وینا د "قصه ویونکي" په صفت په لاندې طریقو کولای شئ له زده کوونکیو سره د کیسې لوستنې د زده کړې په برخه کې مرسته وکړئ.

- هر زده کوونکي یا زده کوونکو ډلې لپاره د "فاطمه تاوونکی او خیمه".



۱. د کیسې لومړۍ او وروستۍ جمله ولیکئ. دا جملې پر تخته ولیکئ، او یا یې پر یوه پاڼه ولیکئ او پر دېوال یې سریښ کړئ، چې زده کوونکي یې ووینې:

*پخوا لویدیځ ته پروت یوه لیرې ښار کې، د فاطمې په نامه یوه جنۍ اوسیده.*

*فاطمه وروسته یوه شوه، چې د همدې پیښو له لارې چې په پیل کې ناوړه او بدې بریښیدې هغې داسې څه زده کړل چې په پای کې د هغې د همیشنۍ خوښۍ ته د رسیدو مهمه برخه شو.*

۲. زده کوونکیو ته ووایاست چې تاسې غواړئ هغوی دې کیسه په خپلو الفاظو سرترپایه ولولي، خو هغوی باید هغه لومړۍ او دوهمه جمله ونه لیکي چې تاسې لیکلې.

۳. له زده کوونکیو غوښتنه وکړئ چې په فردي توګه، یا له ملګري یا ډلې سره په ګډه، د کیسې پېښې سره په زړه کړي، او یو له بل سره په خپلو الفاظو د کیسې په راجوړولو کې مرسته وکړي. که اړتیا ولري، نو زده کوونکیو ته اجازه ورکړئ چې بیرته کیسې ته مراجعه وکړي، یا زده کوونکیو ته مشوره ورکړئ چې یو لړ داسې انځورونه جوړې کړي چې د کیسې د اصلي صحنو د په وریادولو کې ورسره مرسته وکړي.

۴. د کیسې د مشق او تمرین لپاره زده کوونکي په وړو ګروپونو ووېشئ. کله چې په ګروپونو کې سره کېښني، نو باید په نوبت سره کیسه په خپلو لفظونو کې بیان کړي، او نور غړي ورته غوږ ونیسي. (د ګروپي کار له لارې به څو کسه زده کوونکي په یوه وخت کې د ټولګي په کار کي برخه اخلي). په وړو ګروپونو کې غوږ اېښودونکي باید په توجه غوږ ونیسي، او که د کیسه کوونکي څه له یاده وځي، نو ور په یاد یې کړي. هر هلك باید له ټولګي د باندې، د کیسې تر تمرین وړاندې په صنف کې دوه یا درې ځله د هغې تمرین وکړي. دغه تمرین ښایي دوه یا درې اونۍ وخت ونیسي.

۵. کله چې زده کوونکي داسې احساس کړي چې نور چمتو دي، نو له هغوی څخه یو څو خپل خوښي (رضاکار) را وبولئ چې د ښوونځي یوه بل ټولګي ته کیسه وکړي. (د بل صنف په وړاندې د کیسې په ځانګړې ادا لوستل به یو ښه ساتېرى او د شاباسي وړ وي!). اړينه نه ده چې هر هلك دې کیسه ولولي. ځینې هلکان ښایي شرمناك وي، چې په هغه صورت کې باید د ټولګي په مخ کې کیسه کولو ته اړ نه ایستل شي.

| |
|---|
| **د مهارت د انکشاف اندازه کول: د قصې بیا ویل لکه د قصه ویونکي په څیر** |
| درجه ۱: زده کوونکی نه شي کولای چې ان د ښوونکي په مرسته قصه ووایی. |
| درجه ۲: زده کوونکی کولای شي چې د قصې اساسي ټکي بیان کړي خو بې نظمه او بې جوړښته وي، او کله کله یې ژبه هم بندیږي. معلومیږي چې هغه یې میخانیکی زده کړي وي. |
| درجه ۳: زده کوونکی قصه بیانولای شي، د قصې ټول عناصر په وضاحت ویلای شي. قصه ویل یې مناسب دي او لغاتونه یې تخلیقي دي. |
| درجه ۴: زده کوونکی په خورا ښه ژبه قصه بیانولای شي. خبرې کوونکی کیدای شي په طنزیه، احساساتی، تخیلي اویا خوښۍ باندي قصه بیا ووایي. |

## ه: د ننداري (تمثیل) په بڼه د کیسې وړاندې کول

زده کوونکي کولای شي د خپل ټولګي، یا د کوم بل ټولګي په مخ کې د کیسې د نارسمي تمثیل له لارې د کیسې په اړه خپله پوهه غښتلې کړي، او کیسه په خپل تعبیر خلکو ته وړاندې کړي.

زده کوونکي د تمثیل لپاره ځانګړیو جامو یا وسایلو ته اړتیا نه لري. هغوی دې یوازې د کیسې د څېرو ویناوې ووایي، او د صحنو د تمثیل په ترڅ کې دې له حرکاتو او اشارو کاروخلي، یا کولای شي ځینې ساده وسایل هم وکاروي. تاسې باید د تمثیلي پارچې د ډایرکټر یا لارښود په توګه، هغوی ته لارښوونې او مشورې ورکړئ، خو له یو یا دوه ځله تمرین وروسته به هغوی خپله وغواړي چې کیسه بیا بیا تکرار کړي، او له هرځل تکرار سره به زدکوونکي نور هم تکړه کېږي. لاندې د تمثیلي پارچې په بڼه د کیسې د پیلولو ځینې لارې چارې بیانېږي:

۱. زده کوونکیو ته ووایاست چې دا ځل به هغوی کیسه د تمثیلي پارچې په بڼه وړاندې کوي. هغوی ته یې روښانه کړئ چې ځینې زده کوونکي به تمثیلګران، او ځینې نور به یې ننداره‌چیان وي، او هر وګړی به دواړه کرداره ترسره کړي.

۲. وروسته، په یوه ستنه کې د کیسې ټولې څېرې پر یوه تخته یا په یوه لویه پاڼې په یوه لست کې ولیکئ، داسې چې ټول یې ولیدلای شي:

| | |
|---|---|
| د فاطمې پلار | د غلامانو کاروباري |
| فاطمه | ډنډورچي |
| د پایو جوړونکی | باچا |
| د ځمکې بیلابیل ښاریان | |

پر یوې یوې څېرې تېر شئ، او د هغې د کردار د تمثیل لپاره د هلکانو له منځه خپل خوښې (رضاکار) ممثل راوبولئ.

داسې وواياست *"څوک غواړي چې زموږ په ډرامه کې د فاطمې رول ولري؟"* په خپله خوښه انتخاب وکړئ، او نوم یې د څېرې له نوم سره جوخت ولیکئ. دې کار ته تر هغو دوام ورکړئ چې د هرې برخې د تمثیل لپاره زده کوونکی پیدا کړئ. ممثلینو ته وواياست چې هر ممثل به خپله برخه په خپله راجوړوي. د دې معنا دا ده چې هغوی دې د کتاب خبرې اترې نه کاروي، بلکې خپل الفاظ دې ورته جوړ کړي.

۳. هغوی ته وواياست چې تاسې به دغه تمثیل څو ځله په صنف کې تکرار کړئ، او هر هلک به د تمثیل فرصت ترلاسه کړي. هغوی ته وواياست، هر هغه زده کوونکی چې په تمثیل کې برخه نه اخلي، د اورېدونکي په حیث هماغه اندازه مهم کردار ترسره کوي. څرګنده یې کړئ چې تاسې به د تمثیلي پارچې د ډایرکټر یا لارښود دنده ترسره کوئ او هغوی ته به د تمثیل د ښه او غوره پرمختګ لپاره مشورې او لارښوونې کوئ، خو هغوی باید کیسه په خپل تعبیر تمثیل کړي. یعني هغوی باید د هرې صحنې په تمثیل کې خپل ځاني الفاظ، اشارې، او حرکتونه وکاروي.

۴. د کیسې د بېلابېلو صحنو د تمثیل لپاره د خونې په منځ کې ساحه تعیین کړئ (کښتی، بیلابیل ځایونه چې فاطمه ورغلې ده، نور) او بیا له اورېدونکیو غوښتنه وکړئ چې د تمثیل ځای ته مخامخ کښېني. هغوی د صحنې له اړتیا سره سم کښېنوئ. هغه زده کوونکي چې په صحنه کې نه دي، د صحنې یوه لوري ته یي ودروئ، تر هغو چې وار یې را ورسېږي. ممثلان صحنې ته راوبولئ، او هغوی ته مخه ورکړئ چې صحنه په خپله راجوړه کړي. کله چې زده کوونکي نه پوهېږي چې څه ووایي، نو کولای شئ یوه کومکي جمله ورته ووایاست، خو هیله ده چې هغوی به ژر وپوهېږي او سمه دنده به ترسره کړي.

۵. د تمثیلي پارچې په پای کې له ممثلانو غوښتنه وکړئ چې له ټولو ټولګیوالو سره د پارچې د تمثیل په اړه په بحث او تبصرو کې برخه واخلي. هغوی د لاندې پوښتنو ځوابونې ته راوبولئ:

*ممثلانو کوم رول ډېر ښه تمثیل کړ؟*

*د ممثلانو راتلونکې ډله د تمثیل د لا ښه کولو لپاره څه کولای شي؟*

*اورېدونکیو کوم رول ښه ترسره کړ؟*

*ممثلان د راتلونکې تمثیلي پارچې د لا ښه کولو لپاره څه کولای شي ؟*

۶. ډېری هلکان د کیسې د تمثیل د وار په ترلاسه کولو ډېر خوشحالېږي، او خوند ورکوي. هرځل چې نوې ډله ممثلان راځي، وینا وې به په مختلف انداز وړاندې کوي، بېلې نښې او بېل ډول حرکات به ترسره کوي ... د هغوی

کړنې به له کيسې څخه د هغوی د ځاني تعبير استازيتوب کوي، او څرنګه چې هره کيسه په يوه بېله بڼه تعبيرېدای شي، نو د کردار او تمثيل بېلښت او توپير هم بايد وستايل شي، او يادونه يې وشي.

| |
|---|
| **د مهارت د انکشاف اندازه کول: د ننداړې (تمثيل) په بڼه د کيسې وړاندې کول** |
| درجه ۱: زده کوونکی د تمثيل پر وخت ډېرې ورو او بې خوځښته خبرې کوي، او د کرکتر غږ نه باسي، که ښوونکي ورسره مرسته هم کوي. |
| درجه ۲: د زده کوونکي خبرې اوريدل کېږي خو د کرکتر له غږ سره سمون نه خوري. بيان په کې نه وي موجود. تمثيل يې ژوندی نه وي. |
| درجه ۳: زده کوونکی يو څه واضح خبرې کوي، د کرکتر غږ استعمالوي، اوريدل کېږي او د پوهيدو وړ وي. بيان او تجسم تخيلي او د نوښت درلودونکی دی. |
| درجه ۴: زده کوونکی د خورا ښې ژبې د استعمال او د کرکتر رول ډير ښه ادا کوي، په طنزيه، احساساتی، تخيلي اويا خوښۍ باندې ادا له کبله بيخې د اصل په څير ښکاري. |

# له کورنۍ سره د کيسې شريکول

کله چې هلکان ټولې "نورې کړنې" بشپړې کړي، او د خپلې زده کړې په اړه ډاډه شي، نو سلا ورکړئ چې خپلې هڅې له کورنيو سره شريکې کړي. لاندې په دې اړه ځينې سپارښتنې وړاندې شوې:

۱. **رسامي او کيسه کول**: له زده کوونکيو غوښتنه وکړئ چې خپل رسمونه کورته يوسي. هغوی ته سپارښتنه وکړئ چې د کيسې لنډيز ترتيب کړي، او بيا هغه څه شرح کړي چې په انځور کې رسم شوې ده.

۲. **د کيسې په اړه ليکل**: کله چې زده کوونکي د کيسې په اړه ليکل بشپړ کړي، نو هغه دې کورونه ته يوسي، او خپلو کورنيو ته دې يې په لوړ غږ ولولي.

۳. **په ځانګړې ادا او وزم کيسه کول**: کله چې زده کوونکي ډاډه شول چې کيسه په روانۍ سره نورو ته بيانولای شي، او ډاډه شول چې په ځانګړې ادا او وزم يې هم لوستلای شي، نو غوښته ورڅخه وکړئ چې د خپلې کورنۍ غړيو ته يې واوروي.

۴. **د کيسې تمثيل**: که يوشمېر زده کوونکي يوځای سره اوسېږي، هغوی ته سپارښتنه وکړئ چې له ښوونځي بهر سره راټول شي، او د خپلو کورنيو په وړاندې تمثيلي ننداره ترسره کړي او يا که ممکنه وي، د کورنيو غړي ښوونځي ته را وبولي، او په ښوونځي کې ورته تمثيلي ننداره وړاندې کړي.

۵. **نورو ته د لوستلو زده کړه**: وروسته له دی نه چی زده کونکو ټول تمرينونه چی تاسی ورته د دې کتاب څخه ورکړی وو، سر ته ورسول. ځان ډاډه کړی چی هر زده کونکی خپل کتاب ولری چی کور ته يې يوسی هغه د

هغوی کتاب دی. او هر وخت چې وغواړي ولولی. تاسی کولای شي چې د هغوی څخه دا غوښتنه وکړی اوس چې هغوی دا کتاب لوستلی شی د کورنی نورو وګړو سره یې هم ولولی لکه خویندو ورونو او د خپلو میندو سره.

# له کورونو د کیسو راټولول

کله چې د "تاوونکې فاطمه او کیږدۍ" کیسه د دې لارښود د به اساس په ټولګي تدریس کوئ، ستاسې زده کوونکي د دې فرصت لري چې له خپلو کورنیو څخه فولکلوري کیسې راټولې کړي.

۱. زده کوونکو ته وواياست ممکن د هغوی کورنۍ غړو ته د داسې خلکو نورې ډېرې کیسې هم يادې وي چې له خپلو پيښنو يې يو څه زده کړي وي لکه چې دوی يې له تاسې سره په ټولګي کې لدې کیسې زده کوي، او نورې کیسې هم يادې وي او تاسې غواړئ چې دوی د خپلو کورنیو له غړو په ځانګړي ډول والدینو، نیا، نیکه، تربندو، کاکاګانو، ماماګانو او نورو مشرانو څخه پر پوښتلو ولسي کیسې او نورې تدریسې کیسې راغونډې کړي، هغوی ته وواياست چې:

*فاطمې له خپلو پيښنو ډېر څه زده کړل چې وروسته په ژوند کې يې ډېر پکار شول. تاسې ټول به په کورنۍ يا ګاونډ کې داسې يو څوک پېژنئ چې ولسي کیسې يا تدريسي کیسې ورته يادې وي. راځئ چې وګورو آيا موږ داسې يو څو خلک پيدا کولای شو چې د خپل وړکتوب يا نورې کېسې چې دوی په خپل ژوند کې اوريدلې وي ورته يادې دي که چيرې چې کرکټرونه له خپلو پيښنو زده کړه کوي.*


*دا ستاسې دنده ده: په خپله کورنۍ يا ګاونډ کې له خلکو وپوښتئ چې دوی ته ولسي کیسې يا تدريسي کیسې يادې دي يا نه، ورڅخه وغواړئ چې د خپلې خوښې کیسه درته وکړي. څومره ښه چې يې ليکلای شئ ويې ليکئ، يا يې ښه په ياد وساتئ چې بيا يې وواياست، او هغه کيسې له ځان سره ټولګي ته راوړئ.*


۲. زده کوونکو ته اونۍ يا دوه ورکړئ تر څو له خلکو سره وغږيږي او وګوري چې د کورنۍ غړو يې کيسې زده دي يا نه. کله چې زده کوونکي کيسی راوړي نو تاسې ورسره ځيني دا فعاليتونه کولای شئ:

- له زده کوونکو وغواړئ چې د کيسو رسمونه رسم کړي، په ټولګي کې د رسمونو باره کې وغږيږي او بيا يې له ځان سره کور ته يوسي او هغوی ته چې کيسه يې ورته کړې ده، وښايي.
- له زده کوونکو وغواړئ چې کيسه په خپلو ټکو وليکي او ورڅخه ساده کتابونه جوړ کړي او هغوی ته چې دوی ته يې کيسه کړې ده ورکړي. (د ساده کتاب د جوړولو په اړه د لارښوونو لپاره راتلونکې پاڼه وګورئ.)
- ځيني مشران ټولګي ته راوبولئ او ورڅخه هيله وکړئ چې له ټول ټولګي سره خپلې کيسی شريکې کړي.


# د ساده کتاب جوړولو لارښوونې

د کاغذ څو ټوټې، ټولې یوځای، په نیمی کې کت کړئ.






د کاغذ د کت کړیو څوکو په اوږدو کې سوري جوړ کړئ. (دغه سوري باید پر ټولو پاڼو پر یوه ځای وي).  د دې کار لپاره له سوري کوونکي، قیچي یا چاقو څخه کار واخلئ، که دا ممکن نه وي  نو د یوځای کیدلو لپاره په لاندې ډول عمل وکوئ




ټولې پاڼې پرانیزئ، او یقیني  کړئ چې ټول سوري پر یوه لیکه برابر دي. له شا لورې په سوریو کې تېروبېر تار وپېیئ او ټولې پاڼې سره وګنډئ.




د تار سرونه ښه کش کړئ او کلک یې وتړئ.



د سټپلر په وسیله د یو ځای کولو نمونه

## د یوځای کیدلو بدیلې لارې:


سټیپلر: له لومړي پړاو وروسته، پاڼې د کتاب په څیر کات کړئ، کات شوې څنډې دوه درې ځایه سټیپلر کړئ.

سریښ: په کات شوو څنډو سریش ووهئ، پاڼې سره نږدې کړئ. ځان ډاډه کړئ، مخکې له دې چې زده کوونکي په کتابونو کار پیل کړي، سریښ بیخي وچ شوي وي.

ګنډل: د پاڼو د ګنډلو لپاره له یوې قوي ستنې او تار څخه کار واخلئ او کات شوې څنډې وګنډئ. (ستنې په خوندي ځای کې کیږدئ چې څوک په ځان خوږ نه کړي.)

تاسې او ستاسې زده کوونکي کیدای شي د کتاب د یوځای کیدلو لپاره له دې هم ښې لارې پیدا کړئ.

# د فاطمې د سفر نقشه



کولای شئ دا چارټونه بیا جوړ کړئ او د خپلو زده کوونکو د مهارتونو د انکشاف، چې تاسې یې په ټولګي کې درس ورکوئ د مسیر د ټاکلو لپاره استعمال کړئ. د هرې ورځې د فعالیت په پای کې د مهارت د سطحې د توضیح لپاره لطفاً د مهارت د انکشاف د اندازه کولو چارټ ته مراجعه وکړئ.

## *تاوونکې فاطمه او کیږدۍ* د قصې لپاره د زده کوونکو د پرمختګ ارزونه

د زده کوونکي نوم:________________________________

د تسلط سطح

| زده شوي مهارتونه | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ |
|---|---|---|---|---|
| لومړۍ ورځ: وړاندوینه کول | | | | |
| دوهمه ورځ: تکرار او نتیجه ګیري | | | | |
| دوهمه ورځ: د لوستنیزو او وینیزو مهارتونو لوړاوی | | | | |
| دریمه ورځ: د کیسې درېیمه لوستنه | | | | |
| دریمه ورځ: د لوستنیزو او وینیزو مهارتونو لوړاوی – مشخصات چې ورته اړتیا | | | | |
| څلورمه ورځ: آزاده مطالعه – په لوړ غږ د کیسې لوستنه | | | | |
| څلورمه ورځ: د مهمو مفکورو معلومول – د خپلو اهدافو لاسته راوړلو لپاره د مهارتونو رامنځ ته کول | | | | |
| د ټولګي یا کور نور فعالیتونه - پنځمه او شپږمه ورځ | | | | |
| د کیسې په اړه لیکل | | | | |
| په ځانګړې ادا د کیسې لوستنه | | | | |
| د ننداري (تمثیل) په بڼه د کیسې وړاندې کول | | | | |

---


## *تاوونکې فاطمه او کیږدۍ* د قصې لپاره د زده کوونکو د پرمختګ ارزونه

د زده کوونکي نوم:________________________________

د تسلط سطح

| زده شوي مهارتونه | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ |
|---|---|---|---|---|
| لومړۍ ورځ: وړاندوینه کول | | | | |
| دوهمه ورځ: تکرار او نتیجه ګیري | | | | |
| دوهمه ورځ: د لوستنیزو او وینیزو مهارتونو لوړاوی | | | | |
| دریمه ورځ: د کیسې درېیمه لوستنه | | | | |
| دریمه ورځ: د لوستنیزو او وینیزو مهارتونو لوړاوی – مشخصات چې ورته اړتیا | | | | |
| څلورمه ورځ: آزاده مطالعه – په لوړ غږ د کیسې لوستنه | | | | |
| څلورمه ورځ: د مهمو مفکورو معلومول – د خپلو اهدافو لاسته راوړلو لپاره د مهارتونو رامنځ ته کول | | | | |
| د ټولګي یا کور نور فعالیتونه - پنځمه او شپږمه ورځ | | | | |
| د کیسې په اړه لیکل | | | | |
| په ځانګړې ادا د کیسې لوستنه | | | | |
| د ننداري (تمثیل) په بڼه د کیسې وړاندې کول | | | | |

کولای شئ دا چارټ د خپلو ټولو زده کوونکو د مهارتونو د انکشاف، چې تاسې یې په ټولګي کې درس ورکوئ د مسیر د ټاکلو لپاره استعمال کړئ. د هرې ورځې د فعالیت په پای کې د مهارت د سطحې د توضیح لپاره لطفاً د مهارت د انکشاف د اندازه کولو چارټ ته مراجعه وکړئ.

## د ټولګي د پرمختګ ارزونه

ښوونکی ____________ د ټولګي شمېره/پېژندنه ____________

نېټه: ____________

د هوپو د کتاب عنوان: *تاوونکې فاطمه او کیږدۍ*

دا ____________ د هوپو کتاب ما د زده کوونکو سره استعمال کړی دی.

په ټولګي کې د زده کوونکو شمیر: ____________

د هر زده کوونکي د تسلط سطح*

| زده شوي مهارتونه | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ |
|---|---|---|---|---|
| لومړۍ ورځ: وړاندوینه کول | | | | |
| دوهمه ورځ: تکرار او نتیجه ګیري | | | | |
| دوهمه ورځ: د لوستنیزو او وینیزو مهارتونو لوړاوی | | | | |
| دریمه ورځ: د کیسې دریيمه لوستنه | | | | |
| دریمه ورځ: د لوستنیزو او وینیزو مهارتونو لوړاوی – مشخصات چې ورته اړتیا | | | | |
| څلورمه ورځ: آزاده مطالعه – په لوړ غږ د کیسې لوستنه | | | | |
| څلورمه ورځ: د مهمو مفکورو معلومول – د خپلو اهدافو لاسته راوړلو لپاره د مهارتونو رامنځ ته کول | | | | |
| د ټولګي یا کور نور فعالیتونه - پنځمه او شپږمه ورځ | | | | |
| د کیسې په اړه لیکل | | | | |
| په ځانګړې ادا د کیسې لوستنه | | | | |
| د ننداري (تمثیل) په بڼه د کیسې وړاندې کول | | | | |

* هرې سطح ته رسیدونکي ټول زده کوونکي وشمیرئ



**دا پانه د نوټ کولو له پاره ده**



**دا پانه د نوټ کولو له پاره ده**



**د ادریس شاه له لوري لرغوني ویل شوې افغاني کیسې.**

**هر یو دوه ژبیز دري او پښتو او په انګلیسي ژبه د ښوونکی**

**د لارښود سره د ټولګي د استفاده لپاره، موجود دي**

لومړی کتاب: د بزګر ښځه (له وړکتونه تر شپږم ټولګي پوری)

دوهم کتاب: هغه زمری چې خپله څېره یې په اوبو کې ولیده (له وړکتونه تر شپږم ټولګي پوری)

دریم کتاب: مسخره چرګ (له وړکتونه تر شپږم ټولګي پوری)

څلورم کتاب: هوښیار هلک او خطرناک ځناور (له وړکتونه تر شپږم ټولګي پوری)

پنځم کتاب: زړه ښځه او کوربت (له وړکتونه تر شپږم ټولګي پوری)

شپږم کتاب: بې نومې هلک (له وړکتونه تر شپږم ټولګي پوری)

اووم کتاب: سړی او ګیدړ (له وړکتونه تر شپږم ټولګي پوری)

اتم کتاب: نیم هلک (له وړکتونه تر شپږم ټولګي پوری)

نهم کتاب: تاوونکې فاطمه او کیږدۍ (د پنځم نه تر شپږم ټولګي لپاره)

لسم کتاب: جادویي آس (د پنځم نه تر شپږم ټولګي لپاره)



# د افغان ښوونکي لاربود کې دا فعالیتونه شامل دي:

## د افغان ولسي ښوونیزو قصو لوستل

په ټولو غونډو کې فعالیتونه داسې ډیزاین شوي دي چې په دې ځیرونو کې ښه ښې رول.

خبرې اترې د پوښتنو او بحث له لارې

د نوي مطلبي فکر کولو مهارت د وده ورکولو د فکر رامنځ ته کولو ته هڅول

د قصې مسالې د تکرار له لارې

د قصې حصول، د زده کړې عرضه چې تر دوام کړي

ټولنیز احساساتي انکشاف

## قصې ته ځواب

لوستل، لیکل، غوږ نیول، خبرې کول

هغه مسئلې چې د قصې سره اړیکې او مهمې موضوعات تر بحث لاندې نیول شوي دي

شخصي تجربې د بحث په شمول

رسمونه او نقاشي

د لوستو او لیکلو د مهارت ځواکونه

د ګفتارونو په ترڅ کې انکشاف

د لغتونو د علوم پوهه

تیوري او درک مهارت

د فکر کولو مهارت د وده ورکول: فکر د ژوندې یاد رامنځ ته کولو ته هڅول

## د اندازه کولو چارټ

چې په اعدادي دوره د زده کوونکي او ښوونکي ترمنځ اړیکې ته وده ورکړي

## د کور ټولګي ترمنځ د تفاهم رامنځ ته کول

ماشومان د قصې نسخې له کورونو او ټولنې سره شریکوي

ماشومان له کورني او ټولني څخه قصې راټولوي

د ټولو کتابونو او ښوونکو لارښود په اړه د نورو معلوماتو لپاره لطفاً تماس ونیسئ.


خیبر بیارغونې موسسه (کور)

P.O. Box No. 5704 Kabul

تیلفون شمېرې: [illegible]
[illegible]

یا هوپو ته په ویبپاڼه کې راپاسلوئ: hoopoebooks.com

kor.pubs@yahoo.com